**ضروري یادونه:**

**ګرانو افغانانو دا کتاب ولولئ چې خپل دوښمنان وپېژنئ!**

**طالبان له کومه راغلل، چا جوړ کړل، د چا لپاره یې جوړل کړل، څنګه یې جوړل کړل، څنګه یې ګران افغانستان د افغانانو په وینو ولمبوو.**

**زموږ له صداقت نه دښمن څنګه ګټه پورته کړې، موږ ته دښمنان په کومو جامو کې راغلي او موږ یې په خپلو کې وژلي یو.**

**دا ټولې کیسې درته د افغانانو ستر دښمن کرنل امام خپله دې کتاب کې لیکلي دي.**

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغانستان د جهاد داستان

روایت: کرنل امام

لیکوال:احمد رضوان تارړ

ترجمه: علي یوسفزی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پیژندنه:

**د کتاب نوم :..........................د افغانستان د جهاد داستان**

**روایت:..........................کرنل امام**

**لیکوال: ..........................احمد رضوان تارړ**

**ترجمه:..........................علي یوسفزی**

**ناشر:..........................پښتونخوا پرس**

**تیراژ:..........................۲۰۰۰**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیکلړ

یو شخص؛ یو لښکر سړی ............................................ ۱
زما د خاپوړو خاوره زما د روزنې زانګو ..................................... ٤
د شوروي خلاف جهاد او ورسره زما تړاو ................................. ۱۰
دا زمونږ خپل جنګ و: ............................................... ۱۹
افغان مجاهدین، بهټو او د سردار داود ملاقات ........................... ۲۷
افغان جهاد او د امریکا مرستې ........................................ ۳٤
جینوا معاهده، ضیاالحق او افغان جهاد ................................. ۳۸
د طالبانو اسلامي امارت ............................................. ٤۵
افغان جهاد او ۳۵ مثالي ځوانان ...................................... ٤۵
کندهار، ۱۹۹۴کال او زه ........................................... ۵۸
د سپین بولدک فتح او طالبانو شهرت ................................... ۷۰
د طالبانو داسلامي امارت بریاوې او له ما پوښتنې ........................ ۷۷
کندهار او پر سپین بولدک د مجاهدینو قبضه ............................ ۸۰
د کندهار فتحه او اسلامي امارت ...................................... ۸۳
طالبانو ته د افغانانو هرکلي ......................................... ۸۷
هرات ته زما د جنرل قونصل په توګه تګ ................................ ۹۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ۱۱ سپتمبر پیښه او په افغانستان د امریکا برید ................................ ۹٤**

**ملا عمر مجاهد سره زما وروستی ملاقات.......................................... ۹۸**

**ناین الیون او طالبانو سره زمونږ کړې جفاګانې....................................... ۱۰٤**

**امریکا مونږ په جګړه کې ښکیل کړو ........................................... ۱۱۰**

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یو شخص؛ یو لښکر سړی

جنرال حمیدګل یوه ورځ د کرنل امام په موجودګۍ کې راته وویل چې کله د کرنل امام سره هم یوه ناسته وکړه، ددې سړي سینه د افغان جهاد د رازونو خزانه ده، ډیر څه به تر لاسه کړې. د پاکستاني میډیا، ویاندویانو او د نظر د خاوندانو له خوا چې په کرنل سلطان پسې څه ډول پروپاګند شروع شو او دهغې د لارې منافقانو ملګرو چې د هغه د کردار د مسخ کولو کوم عمل شروع کړ د یو پاکستاني په حیث ماته ډیر د مایوسۍ وړ و، نو د حقایقو د راسپړلو او د کرنل امام د شخصیت او قربانیو له هغه داستان مې د پردې لرې کولو کوشش وکړ چې له امله یې د پاکستاني قوم په ذهن کې د کرنل امام تصویر ناسم جوړېده. له کرنل امام صیب سره مې خپله اراده شریکه کړه، لومړی خو هغه نه چمتو کېدلو او زیاته یې کړه چې زما کار داسې و چې ضرور نه بولم په اړه یې ډیر وغږیږم. خلک او زما دښمنان چې هرڅه وایي هرڅه فکر کوي ماته مهم نه دي زه خپل وجدان او پاکستان ته پاک یم، ما چې څه هم کړي د پاکستان له پاره مې کړي او چې ضرورت شي خپل سر هم له پاکستان قربانوم. اخر په دې شرط راضي شو چې ځینې (محرم خبرې) به پټې پریږدي او د ځینو پوښتنو وضاحتونه به راکوي.

په خبرو خبرو کې مې داسې څه ترلاسه کړل چې د معلوماتو د زیاتولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ترخنګ د ایمان د پیاوړتیا او زیاتېدو سبب هم ګرځي، په دې توګه هڅه کوم چې دکرنل امام په خوله د افغان جهاد هغه ریښتینی داستان وړاندې کړم چې هیوادپاله پاکستانی قوم دخپل یو مخلص او محب وطن پاکستاني سرتیري کیسې په خپلو زړونو کې د تل له پاره یادې وساتي. په دې داستان کې به تاسې دا هم ولولئ چې  کرنل امام څنګه د افغانستان د جهاد په اړه دروغ پروپاګند ردوي او د پاکستاني پوځ د قربانیو څخه مو هم خبروي.**

**کرنل امام د افغان جهاد په برخه کې په یواځې ځان د یو لښکر هومره کار او لاسته راوړنې لري، لسګونه داسې کماندړان او سیاسي مشران یې روزلي چې نن یې په افغانستان او اسلامي ملکونو کې نومونه یادیږي. کرنل امام د افغان مشرانو او ولس سره ښه اړیکې درلودې او له همدې کبله پاکستاني ادارو هغه لومړی په کندهار او بیا په هرات کې د جنرل قونصل په توګه په دنده وګماره او د نوموړي له اسر روسوخ او نفوذ څخه د استفادې له پاره یې د مهمو دندو مسولیت ورپه غاړه کړه، کرنل امام د طالبانو د اسلامي امارت په ټوله واکمنۍ کې په افغانستان کې ژوند تیر کړ او سختې او سپورې یې وګاللې.**

**د سپتمبر د ۱۱ پیښې وروسته یې د پاکستاني پوځي چارواکو سره د افغان طالبانو پر سر شدید اختلاف راغی او د امریکا سره مرسته کول یې د پاکستان سره خیانت وباله. په ۲۰۱۰ زیږدیز کال کې د مارچ په میاشت کې د آي ایس آي د یو بل پخواني او تکړه افسر خالد خواجه سره یو ځای چې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو برتانوي خبریال یې هم ملتیا کوله، د پاکستان د سلامتیا له پاره شمالي وزیرستان ته په یو نوي میشن ولیږل شو خو په لاره کې د پاکستاني طالبانو له خوا وتښتولای شو، خالد خواجه لومړی   کړای شو، د برتانوي خبریال په سر پیسې واخیستل شوې، خو د کرنل امام په بدل کې له زندانونو لومړی د خپلو ۱۷ ملګرو د ازادولو غوښتنه وکړه، چې پاکستاني حکومت یې د خلاصون له پاره هیڅ کوشش ونه کړ، د اسلامي امارت امیر المومنین ملا محمد عمر مجاهد هم د پاکستاني طالبانو له مشرانو وغوښتل چې د مجاهدینو استاد ازاد کړي خو د هغه غوښتنه هم رد کړای شوه. کرنل امام چې څومره سپیڅلی او پاک مجاهد انسان و او د پاکستان له پاره یې څومره قربانۍ ورکړې وې هومره په بې دردۍ د ۲۰۱۱زیږدي کال د جنورۍ په ۲۳مه   کړای شو او دغې پاکې هستۍ د یو خوشاله پاکستان له پاره لیدلي ټول خوبونه او ارمانونه له ځان سره یوړل، خو یوه خبره لکه د لمر روښانه ده چې کرنل امام نه مري هغه به د محب وطن پاکستاني قوم او مجاهدینو په زړونو کې د تل له پاره ژوندی وي.

احمد رضوان تارړ

چکوال، چتال

17/3/2012م

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما د خاپوړو خاوره زما د روزنې زانګو

چکوال د پاکستان د پنجاب ایالت نسبتا یوه مهمه ولسوالي ده، د ځو خبرو له کبله د پنجاب په ایالت کې ددغې ولسوالۍ اهمیت او ارزښت زیات دی خو تر ټولو مهمه هغه یې دا ده چې ددې سیمې خلک د پوځ سره ځانګړې علاقه او مینه لري.

زه هم له ښه مرغه دهمدې ولسوالۍ په چټال سیمه کې پیدا شوی یم، پلار مې را باندې امیر سلطان نوم کیښود خو دا چې تاړړ زما قبیله ده نو چې لږ را لوی شوم د امیر سلطان سره مې تاړړ نوم هم ځان ته غوره کړ، تر کومه چې دخپل کار عملي ډګر ته نه وم راوتلی او د افغانستان د جهاد په اړه راته دنده نه وه سپارل شوې نو تر هغې پورې په پوځي چاونۍ او کاري دفتر کې ټولو د امیر سلطان په نوم غږ کولو او پیژندګلو مې هم وه خو د افغانستان د جهاد له پاره د آي آیس آي له خوا را سپارل شوې دنده کې زما کرکټر او چال چلند ددې سبب شو چې د مجاهدینو له خوا راته خپل امام وویل شي او په همدې توګه زه لومړی د طالبانو په منځ کې او بیا ورو ورو رسنیو کې د کرنل امام په نوم مشهور شوم.

کرنل خو مې پوځي رتبه وه خو دا چې طالبانو ته به مې مونځ ورکولو نو د هغې له کبله امام هم شوم لومړی زدکړې مې همدلته د چکوال په خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ښکلي کلي چټال کې ترسره کړې، چټال زما دخوبونو نړۍ ده زما د کوچنیوالي، هلته مې خاپوړې کړي او هلته مې خپل ماشومتوب پرېښی دی.**

**زه د یو ټیټ رتبه پوځي پلار تر سیوری لاندې را لوی شوی یم هغه پلار چې هلالي پرچم سره یې مینه کوله او همدا یې زړه و چې د هلالي پرچم له پاره ما دنیا ته راوړي او زه هلالي پرچم په ټوله نړۍ کې ورپوم.**

**همدا یې راته ویل چې د پاکستان له پاره ځان هم قربان کړه او تر هرڅه یې لومړی وګڼه ترهرڅه! د هغه دا ټینګار ماته ډیر عجب ښکارېده او عجب خوند مې ترې اخیسته، زما خبرې ډیرې روانې نه وې او غږ مې هم ګڼګڼی و خو د ښوونځي د ترانې ټیم سره به مې چې کله د پاک سرزمین شاد باد ترانه ویله نو خوند به مې اخیست.**

**همدا وو چې له وړیکتوبه مې د پوځ سره مینه وه، تر دې چې خوبونو کې به پوځي وم او ټانکونه او الوتکې به مې خوب کې لیدې او چې پلار ته به مې خوب وایه نو راته خوشالیدلو به.**

**خو د مور مې بیا پوځي دنده نه خوښیده شاید علت یې دا و چې نه یې غوښتل زه یو جګړه مار شخص شم. مور مې په خپلو سترګوجنګونه لیدلي وو.**

**خو له مانه خدای ج د خپل وطن له پاره لوی کار اخیستل غوښتل نو سره له دې چې ډیر وخت مې مور سره و خو فکر او ذهن مې د پلار خوښې ته**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیواله و.

راته یاد شي چې یوه ورځ مې کوچنیتوب کې د خپل کوځې له ماشومانو سره لوبې کولې او زه په کې پولیس وم نو مور مې راغله او رانه یې ډنډه واخیسته او دا خبره یې هم راته یاده ده چې ویل یې ته لا له اوسه خلکو پسې ډنډې ګرځوې هغه خبره نه وه چې یو وخت به زما سرو کار د ډنډو نه بلکې باروتو او کلاشینکوفونو سره وي.

زه پوهیږم د مور روح به مې نا ارام نه وي ځکه چې زه د خپل وطن یو سرتیری یم او دخپل وطن له پاره هر څه کوم.

زه غواړم زمونږ وطن په نړۍ حکومت وکړي او په دې هیله مې مور هم نه خفه کیږي هغه به هم خوشاله شي چې زمونږ وطن د امریکې او روس غوندې هیوادونو نه پورته وي او که په جنګ کې وي او که په بله برخه کې خو چې زمونږ هیواد دوی ته ماتې ورکړي.

زمونږ دښمن ملک انډیا مو د خاورو سره خاورې کړي وي او په ټوله سیمه کې هلالي پرچم رپانده وي.

د ښوونځي پرمهال مې ذهن ماشوم و په دې خبرو ډیر نه پوهیدم خو د ټوپک او پوځي دریشۍ او بوټانو سره مې سخته جوړه وه.

له لومړنیو زدکړو وروسته مې د پوځي زدکړو مرکز ته مخه کړله او دخپلو ارمانونو پوره کېدو له پاره مې خپله د هدف دروازه وټکوله، نورې زدکړې مې په د پاکستان د نظامي زدکړو په اکاډمۍ کې( Pakistan military

(c) ketabton.com: The Digital Library



academy ) کې پیل کړې دا زما د خوبونو د پوره کېدو لومړی پړاو و او په دې کې له زدکړو وروسته ما ډېر څه تر لاسه کولای شول، خو دلته له یو داسې حالت سره مخ شوم چې تصور مې یې هم نه شو کولای؛ لومړی د وینښتو کمول مې لومړۍ تجربه وه چې د یو قانون لاندې را باندې عملي کېدله، هغه رنګ نظامي دریشي هم را په غاړه کړای شوه چې خوښه مې وه او هغه تور درانه بوټان مې هم اوس په پښو و او د لومړۍ ورځې تمرین ته په تمه وم چې کله به پیلیږي.

د شپې تر ډېره ویښ پاتې شوم او د سباني تمرین په اړه مې فکر کولو خو په همدې سوچونو کې ویده شوی وم او یو وخت مې شور او غال مغال تر غوږ شو نو پوی شوم چې تمرین له پاره باید چمتو شو، لومړی پیل مو له منډې و خو ما فکر نه کولو چې دا منډه دې دومره اوږده وي تر دې چې زما سینه دې سوزش وکړي، په ډېرو ځایونو کې د کیناستو اراده مې وکړه خو د تیرې ورځې د درس چې د تمرین په اړه یې راته ویلی و را یاد به شو او بیا به مې د نورو ملګرو په منځ منځ کې منډې ته دوام ورکړ.

په منځ منځ کې مې ویل چې سلطانه دا ستا د وسې کار نه دی تا د ځان له پاره یو نا مناسب انتخاب کړی خو بیا به مې ویل نور هم زما په خبر دي او کومه ځانګړتیا نه لري زه باید خپل هدف ته دوام ورکړم او منډه کې وروسته نه شم.

دا به لومړی ځل و چې د پوځي دریشۍ نه زما دومره خولې په شنه سهار کې وبهیدلې، د زړه درزا مې هم ډېره وه او او ساه مې هم لنډه لنډه کېدله

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو یو وخت مې چې ځان ته فکر شو نو زه وروستۍ برخه کې په منډه وم او د شا له خوا مې یوه خطرناکه لغته وخوړله چې همداسې په ډاګه میدان پړمخ ولویدم خو که لاسونه مې لومړی په ځمکه نه وای لګولي خدای خبر که دې اوس زما مخ او پوزه په دې ډول پاتې وی.

په کوچني توب کې به مې جګونه کړي و خو دومره سخته لغته مې کله نه وه خوړلې اوس یې هم چې را یاده کړم نو ملا کې مې یو درد وشي، د تمرین استاد را باندې یوه تیزه چغه وکړه او بیا پورته شوم او منډه مې کړه هغې چغې او پورته کړې ډنډې دومره وډار کړم چې دردونه مې هیر شو او تر ټاکلي ځای ته د رسیدو له پاره مې منډې ته دوام ورکړ.

تر ټولو د حیرانتیا خبره لا دا چې هر سهار له خوبه را ویښیدو سره باکه پاکه مې ږیره خریلی وی، د پاکستان په نظامي سستم کې دا یو اصل دی چې پوځي او د پوځي اکاډمۍ محصل به ږیره خریي او ویښته به یې کم وي، زه به هم هر سهار را پاڅېدم او لومړی به مې ږیره پاکه له مخ لرې کوله او بیا به مې دریشي او بوټونه په پښو کول.

په قراره قراره ددې ټولو شیانو سره اشنا شوم هر سهار په شاړو کې منډې وهل، په چمن کې رغړیدل او د وسلو د استعمال چلونه او مهارتونه زده کول مې ورځنی فعالیت شو.

خو زه لکه خدای یو داسې کار ته پیدا کړی وم چې باید دپاکستان له پاره یې تر سره کړم نو ځکه راته چانس برابر شو چې د سرحدي ځواکونو سره یو ځای شم، د سرحدي ځواکونو سره زما دنده مختلفه وه او هغه څه و چې زما زړه او ذهن ورسره بلد و او زما استادانو ما کې پیژندلي و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته تر یو وخت تیرولو وروسته پریکړه داسې شوه چې زه باید د یو څه وخت له پاره د پوځ د ځانګړې قطع سره په سپیشل فورس کې تیر کړم.

هم هغه و چې زه د پاکستان د پوځ د ځانګړې ډلې سره یو ځای شوم. دا هغه ځای و چې زه دلته په ډېر څه وپوهیدم ارماني خبرې مې هیرې کړې او لکه له خوبه را ویښ چې کړای شوم دلته مې عملي کار ته ملا باید تړلې وای، دلته زه د یو داسې ځانګړې کار له پاره چمتو کیدم چې وړیکتوب کې یې ما په اړه چورتونه وهل.

دا هغه ډله وه چې ټوله پاملرنه یې په سیمه کې روان وضعیت ته وه او زه دخپلو مشرانو سره ډیرو مهمو مسایلو ته متوجې کیدلم.

دلته ما باید زدکړې وای چې د پاکستان له پاره د پاکستان له پولو د باندې څه کولای شم، څنګه د پاکستان اهداف له پولو د باندې تر لاسه کړم او څنګه حتی په پردي هیواد کې د خپل هیواد ګټې خوندي کړم.

پوره اته کاله مې دلته تیر کړل؛ دا اته کاله ماته اتلس کاله وو، دلته راته یو هدف راکړل شو، دلته مې یو ارمان پیدا کړ چې د هغې له پاره مې باید کار کړی وی، دلته مې زده کړل چې تر هرڅه لومړی خپل هیواد دی او له هرې لارې چې کیږي زه به د خپل هیواد له پاره کار کوم.

له اته کلونو زدکړې وروسته زه بیرته باید خپل پخوانۍ دندې ته ګرځېدلای وی، هغه مهارتونه چې په اته کلونو کې مې زده کړل باید هغه عملي کړم او له هغې ګټه واخلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شوروي خلاف جهاد او ورسره زما تړاو

د پاکستان او له پاکستانه د باندې چې د افغان جهاد په اړه خبرې کیږي نو د څو نورو ملګرو سره زما نوم یې په سر کې وي، افغان جهاد سره زما اړیکه ډیره ناڅاپي او د تمې خلاف وه په ۱۹۷۴ زیږدیز کال کې د پاکستان او امریکا ترمنځ د استخباراتو او پوځي روزنې په برخو کې هوکړې وشوې او له ښه مرغه د خپلې وړتیا پر اساس د خپل حکومت له لورې امریکا ته ولیږل شوم.

د پوځ د ځانګړې ډلې سره زما تګ زما له پاره ډیر خوشالوونکی و، خو د زدکړو برخه مې بیا تر ټولو خطرناکه او ځانګړې وه.

زما نوم په داسې روزنیز پرګرام کې لیکل شوی و، چې هغوی په یو ملک کې د ګډوډۍ رامنځ ته کولو او همدا ډول چاودنو کولو مهارتونه زده کړم.

دا دومره خطرناک کار و چې د زدکړو پر مهال څو څو ځل وډار شوم خو بیا به مې چې فکر کاوه چې دا زما هیواد ته ضرورت دی نو هرڅه مې زغمل، زما ډیره لیوالتیا او ځیرکتیا د امریکایانو له پاره ډیره د تعجب وړ وه ما هر یو درس ډیر ښه زده کولو او چې کله به یواځې شوم نو د خپل درس په اړه به مې فکر کولو، په ډیره لږه موده کې زه ددې جوګه شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې یواځې په شلو دقیقو کې دې زه د کور په یوه ساده اشپزخانه کې د مالګې، بورې، د لوښومینځلو پوډرو او نورو کورنیو توکو څخه یو داسې خطرناک بم جوړ کړم چې هغه دښمن ته غټ تاوان واړوي.

ددې ترڅنګ چې تر ټولو ډیر مهم و هغه د استخباراتي چلند اړوند زدکړې وې چې ما د امریکايي استادانو څخه تر لاسه کړې، هغه مهال زه نه پوهیدم چې له امریکا پاکستان ته له تګ وروسته به زه څه کوم، خو په اسلامي اصولو ځان برابرول، لمونځ او د دين اړوند په مهمو خبرو مې کار وکړ او بیا داسې وخت راغی چې امریکايي استادانو به له ما د دین اړوند پوښتنې کولې او ما یې ځواب ورکولو.

دا هغه مهال و چې په افغانستان کې د ۱۹۷۳ د جولایي په ۱۷مه سردار داود خان د ظاهر شاه په نه موجودیت کې پر هغه کودتا وکړه، شاهي نظام یې ړنګ او د جمهوري نظام بنسټ یې کېښود.

سردار داود له دې وړاندې لا له شوروي سره اړیکې درلودې خو واک ته له رسېدو وروسته یې دغه اړیکې نورې هم غښتلې شوې او د مرستو او همکاریو په لړ کې خبره تر دې را ورسیده چې یو شمیر افغان محصلین شوروي ته د زدکړو له پاره لاړل او همدې سره د کمیونیستي افکارو را خورېدو پیل هم وشو.

د کابل پوهنتون او همدا ډول د کابل پول تخنیک پوهنتون کې دهغه استادانو او خوځښتونو خلاف تحرکات پیل شول چې د اسلامي نهضتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



له افکارو يې رنګ اخيستی و، د کشمکشونو وروسته په ناڅاپي ډول په کابل پوهنتون کې د محصلينو د اسلامي فکارو درلودونکې ډلې مشر عبدالرحيم نيازی په مرموز ډول ووژل شو هم هغه و چې د هغه له جنازې څخه يو حرکت پيل شو. د سردار داود حکومت چې کله دهغه خوځښت د مخنيوي هڅه وکړه نو کابو د ۳۵ په شاوخوا کې يوه ډله چې استاد برهاالدين رباني، ګلبدين حکمتيار، احمدشاه مسعود په کې شامل وو پاکستان ته راغلل، استاد سياف هم د دوی سره ملګری و خو هغه په لاره کې نيول شوی و او په زندان کې پروت و.

د پاکستان ډير وفادار او په پاکستان مين ذوالفقار علي بټو نصير الله بابر ته دنده وسپارله چې له افغانستانه راغلې دغه ډله منظمه کړي.

نصير الله بابر د جماعت اسلامي د مشرانو په مرسته کابو ۶ مياشتې په صوبه سرحد کې وساتل او د يو تنظيم په جوړولو يې کار وکړ.

يوه ورځ راته نصير الله بابر صيب وويل چې په يو تنظيم کې د افغانانو راټولول دومره سخت کار و لکه په ډنډ کې چې چيندښې راټولوې.

۱۹۷۳م کال د پاکستان له پاره ډير ښه کال و، له څه مودې راهيسې مونږ که له يو لورې د هندوستان سره سختې خرابې اړيکې درلودې بل لورې مو تازه د پاکستان د ويش تجربه درلوده چې د هندوستان په مرسته بنګلديش له پاکستان جدا شو. که چيرې تر اوسه بنګلديش زمونږ سره وای نو مونږ په ډيره اسانۍ کولای شول چې هندوستان مهار کړو او په يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جذیره کې بند وساتو.

له بده مرغه د افغانستان د شاهي حکومت او بیا وروسته ورسره د داود خان دحکومت لاسونه ډېر پاکستان ته راګرځیدلي وو.

سردار داود د شوریانو په مرسته د پاکستان حالت یو ځل بیا له بحران سره مخ کول غوښتل، شوریانو سمندر ته لاره پیدا کول غوښتل، صدر داود غوښتل خپله پخوانۍ جعرافیه بیرته له مونږ وګرځوي او د ډیورنډ لاین په اړه یې نوې کشاله لا پسې ډیره تبلیغ کړه خو د خدای ج شکر چې دوی ټول په خپلو کړنو کې ناکام شول او پاکستان ته یې هیڅ ضرر ونه شو رسولای.

زمونږ د مخالفو دې دواړو حکومتونو سره هندوستان هم د خپلو شومو موخو له پاره دوی سره لاسونه یو کړي وو او د افغانستان خاوره یې زمونږ په خلاف استعمالول غوښتل.

خو ۱۹۷۴م کال کې معادله بیخي بدله شوه او په لومړي ځل زمونږ لاس ته هم داسې څه راغلل چې مونږ پرې خپل ګاونډي هیواد کابو کولای شو او هغه د داود  او کمیونزم په خلاف راپورته شوي ځوانان وو.

بهټو صیب ډېر زیات خوشاله و، هرڅو که دا یوه وړه ډله وه خو په لومړی ځل پاکستان په سیمه کې او دخپل ګاونډي هیواد افغانستان خوږ رګ پیدا کړ، بهټو صاحب نصیر الله بابر ته ځانګړې دنده وسپارله چې هرڅه کیږي باید له دې فرصت استفاده وکړو، په همدې ورځو شپو کې د داود

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان له لورې د پاکستان د سالمیت خلاف ډیر سازشونه شروع شوي وو او مونږ یې باید لاس لنډ کړی وی، که مو هغه مهال له دې فرصت ګټه نه وی اخیستلای پاکستان به وخته اوس نړی په جعرافیه کې داسې نه و خو بس د خدای مرسته وه او د یو څو وطندوسته شخصیتونو شپه ورځې هلې ځلې وې چې له یو غټ خطر مو پاکستان دادی روغ جوړ تر تاسو را رسولای؛ اوس یو څه خلک را پورته کیږي او په مونږ تور پورې کوي چې مونږ د ترهګرو مرسته کوو او پاکستان مو پردي جنګ کې ښکیل کړه.

وروره زه باید ووایم دا کوم پردی جنګ نه و چې مونږ ورکې ور ګډ شو بلکې دا د پاکستان جنګ وو او که هرڅه کیدلای مونږ باید د پاکستان د خوندیتوب له پآره دا جنګ هم کړی وی او هم ګټلای وی.

نصیر الله بابر چې یو ډیر وطند دوسته سړی و او ډیر لوی سوچونه او ارادې یې درلودې هغه بهټو صیب سره سلا مشوره وکړه چې له افغانستانه راغلیو ډلو ته چریکي جګړه ور زده کړو. سره له دې چې پوځ سره په ځینو برخو کې هغه زمانه کې د بهټو صیب اړیکې ښه نه وې خو دا چون د پاکستان د خوندي کولو خبره وه نو ځکه بهټو صیب پوځ په دې قضیه کې رادخل کړه، دا لومړی ځل و چې د پاکستان پوځ د افغانستان په اړه په یوه مسله کې را ښکیلیږي، د پوځ لوی درستیز هم د بهټو صیب خبره ومنله او په دې برخه کې یې د ځانګړې پالیسی جوړولو او کار کولو پلان ته تیېر وواهه.

لوی درستیز د پاکستان د ایس ایس جي قوماندان جنرال غلام محمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملک ته تليفون وکړ او له هغه يې په دې برخه کې مرسته و غوښته.

دا مهال زه هم په پيښور کې د ايس ايس جي د پراشوت د څانګې مسوول وم، جنرال صيب ملک راته تليفون وکړ ويل يې په لومړي ځل په يو داسې کار کې د مرستې غوښتنه درنه کوم چې نسلونه نسلونه به په تا بيا ووياړي.

ما ورته ويل: ښاغلي مشره ته امر وکړه زه د پاکستان له پاره څه کولای شم؟

جنرال: زمونږ حکومت او پوځ يو خطرناک کار ته لاس اچولای دی او دا پاکستان له پاره نهايت مهم دی ګني پاکستان له سختو ننګونو سره مخ دی.

ما بيا ورغبرګه کړه: حکم کوئ څه کولای شم؟

جنرال: بابر صيب به تاسې سره اړيکه کې شي دهغه يو کار دی زه باور لرم چې ته دا کار په ډيره ښه طريقه کولای شې. ستا د پرمختګ له پاره دا نهايت مهم چانس دی نو د پاکستان او ځان له پاره ته دا پراجيک بايد کامياب کړې.

جنرال صيب راته دا هم وويل چې ته به د خپلې دندې په اړه چوپه خوله يې او نه بايد څوک خبر شي چې ته څه کاره يې او څوک يې.

د جنرال صيب د خولې لفظونه اوس هم راته ياد دي ( But don't"

(c) ketabton.com: The Digital Library



(disclose your identity over there, do it secretly

جنرال صیب را باندې دا سپارښتنه هم وکړله چې هلته نه باید په پوځي موټر یا لباس کې لاړ شم او ما هم د هغه دحکم تعمیل وکړ او یو ستر مسوولیت مې په خپلو اوږو بار وکتلو.

د شوروي له پالیسو په امریکا کې خبر شوی وم چې هغوی څه کول غواړي او همدا ډول د هندوستان او د افغانستان د کړنو او لاس وهنو په اړه مې ژر ژر استخباراتي راپورونه را وغوښتلل او د قضیې هر اړخیز معلومات مې ځان ته راټول کړل.

زه په یواځې سر د خپل خدای په مرسته او د خپل ګران هیواد پاکستان له پاره دې جنګ ته را ووتلم او په لومړۍ ورځ مې ځان سره پریکړه وکړه چې زه به د پاکستان د دښمنانو پر وړاندې له هیڅ یوې لارې مخ نه ګرځوم.

دا ملک مونږ ته خدای په نعمت کې راکړی او بنیاد یې په کلمه توحید اینښودل شوی؛ زه به پرینږدم چې د اسلام دغه قلعه دې سردار داود یا هندوستان ړنګه کړي.

په ۱۹۷۵م زیږدیز کال کې مونږ دا چاره ډیره په لږه پیمانه پیل کړه او په لومړي کورس کې د نورو ډیرو سردار داود مخالفو افرادو سره ګلبدین حکمتیار، احمدشاه مسعود او دین محمد هم شامل وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا لومړی کورس مونږ ډیر پټ تر سره کړه او له دې وروسته مونږ بیا په مختلفو برخو کې ځینې نور کورسونه هم له کابل راغلي ځوانانو ته ورکړل.

دا لړۍ ورو ورو پراخیدله نو له دې کبله یې دې برخې ته د پاکستان د پوځ دوه نور تکړه کسان هم ځانګړي کړل.

کرنل راز او میجرظهور صاحبانو په دې برخه کې ډیرې خوارۍ وکړې او د سردار داود خلاف مو د مخالفې ډلې تقویت او پیاوړتیا له پاره شپه او ورځ په ځان یوه کړې وه.

هغه مهال که مونږ د افغانستان د حکومت خلاف له یو داسې تکتیک کار نه وی اخیستی نو کابل نه مجبورېدلو چې بهټو صیب ته د ملګرتیا لاس را اوږد کړي.

زمونږ د لومړنیو تړینګونو وروسته مو دغه ډلې د افغانستان ننګرهار ولایت ته ولیږلې او هغوی یو څو چریکي بریدونه ترسره کړل.

کله چې د سردار داود مغروره حکومت درک کړه چې که د پاکستان ضد توطیو لاس وا نه خلي نو ملک به یې ورته در به در کړو نو هم هغه و، چې د بهټو صیب سره یې اړیکه ونیوله او پاکستان ته د راتګ غوښتنه یې وکړه.

بهټو صیب ډیر د مشرقي روایاتو پابند سیاست مدار و، په بیلا بیلو برخو کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اړیکو د پراخېدو او د ملګرتیا ژمنې وشوې هم هغه و چې بهټو صیب د افغانستان ضد کړنو د لاس اخیستو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپارښتنه راته وکړه، خو مونږ چې نه غوښتل دا فرصت له لاسه ورکړو په ښکاره خو مو د افغان ځوانانو د جنګي زدکړو بهير ودروه خو زمونږ مسلسل اړيکې ورسره وې او په بيلا بيلو برخو کې مو دهغوی ملاتړ او تنظيم او تجهيز کولو.

مونږ نه غوښتل په لومړي ځل لاس ته راغلی فرصت له لاسه ورکړو، زمونږ د پوځ پلان دا و چې د سردار داود حکومت د ځپلو او هغوی پاکستان ته د راماتولو له پاره بايد دا څه په لاس کې ولرو، هم هغه و چې د لږلږ ځنډ سره سره دا لړۍ د ۱۹۸۷ د ډسمبر تر مياشتې را ورسيدله.

دا هغه وخت و چې سرو لښکرو په افغانستان مستقيم يرغل وکړ او خپل پوځ او مشاورين يې افغانستان ته را وليږل او په ښکاره توګه هغوی د يو لوی جنګ او د اوږد مهالې ستراتيژۍ له پاره کار شروع کړ. د شوروي حکومت لا له پخوا ارادې څه نورې وې او هغوی نه غوښتل چې يواځې د افغانستان په جغرافيه بسنه وکړي، پاکستان د هغوی د راتلونو پلانونو يوه مهمه برخه وه او همدې له پاره يې د افغانستان له حکومت سره داسې وعدې کړې وې چې دوی به د پاکستان له ماتولو وروسته د افغانستان په نوم سيمې هغوی ته ور وسپاري.

هغوی ته معلوم نه وو چې دلته به په ګونډو کيږي او د پاکستان په پاکې خاورې د قدم کيښودلو ارمان به يې پوره نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دا زمونږ خپل جنګ و:

زه غواړم لږه رڼا په دې واچوم چې دا زمونږ خپل جنګ وو مونږ د بل چا له پاره جنګ نه دی کړی مونږ ته معلومه وه چې که مونږ د ډیورنډ لاین هغې غاړې سرې لښکرې حصار نه شوې کړلای نو ډیر ژر به د پاکستان انجام هم د منځنۍ اسیا د هیوادونو په څېر د غلامۍ شي.

ځېنې خلک داسې فکر کوي چې مونږ ګني د امریکې له پاره دا جنګ وکړ کوم وخت چې مونږ دا جګړه شروع کړې وه هغه مهال امریکا افغانستان له پاره هیڅ پرګرام نه درلود.

که یې درلودلای نو بیا یې ولې د نورمحمد ترکي حکومت په رسمیت وپیژندلو تر دې چې پاکستان ته هم د امریکې له خوا وویل شول چې د افغانستان حکومت په رسمیت وپیژني.

زمونږ د پوځ نظر دا و چې د نور محمد ترکي حکومت ډیر کمزوری دی او عام ولسي ملاتړ نه لري نو پکار نه ده چې مونږ یې په رسمیت و پیژنو.

ما په خپله د جنرال ضیاالحق نه هغه وخت اوریدلي چې نه باید مونږ د نور محمد ترکي حکومت په رسمیت و پیژنو خو د امریکایانو تشویق او هڅونه وه چې مونږ د نور محمد ترکي حکومت په رسمیت و پیژندلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه مهال زه او زما نور ملګري په دې نظر و چې دا زمونږ د هيواد د بقا جنګ دی او که مونږ يې ونه کړو نو مونږ به هم سور سيلاب له ځانه سره واخلي.

زه ډير په ډاډه زړه وايم چې په ۷۸، ۷۹ او ۱۹۸۰ درې کلونو په دوران کې چې د شوروي له لښکرو سره ځومره جنګونه شوي دي د ټولو بوج او مسووليت د پاکستان په اوږو و، له افغانستانه راغلي قهريدلو ځوانانو ته مو د دويمې نړيوالې جګړې را پاتې ځينې وسلې او همدا ډول په دره کې مو د دوی له پاره وسلې را ونيولې، ځومره جنګونه چې په دې وختونو کې شوي دي پاکستان تک تنها و او هيڅا يې لاس نيوی نه دی کړی، دا خلک چې نن سبا په رسنيو کې بړ بړ غړيږي دوي چرته درک کولای شي چې هغه مهال مونږ په ځومره سختو مشکلاتو کې د پاکستان له پاره جګړې ته دانګلي وو يا خو دا خلک هغه شرايط نه شي درک کولای او يا بيا د پاکستان سره مينه په زړه کې نه لري.

سره له دې چې په دې وخت کې په مونږ بيخي ډير له ستونزو سره مخ و خو نه چا لاس راکړی او نه هم چا مالي امداد دا يواځې زمونږ جنګ و چې د افغانستان او دهغوی د ملاتړو سره مو روان کړی و، حالات دومره خراب و چې مونږ د شوروي په خلاف د جنګيدونکو مجاهدينو له پاره د ډوډۍ او لباس غم هم نه شو خوړلی خو دا ډير ښه او ريښتيني خلک وو مونږ يې نه په عذابولو چې مرستې لږې دي که ډيرې بلکې لا مو هم هغوی تر احسان لاندې وو او په ډيره ښه توګه زمونږ کاروانه پر مخ روان و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکا دا سوچ هم نه شو کولای چې په افغانستان کې دې د جماهیر شوروي په څېر یو سپر پاور هیواد ته ماته ورکړلای شي.

دغه مهال چې له امریکا کوم ماهرین راغلي وو هغوی په دې نظر و چې په ویت نام کې جګړه کله چې د شوروي له پاره د اوه سمندرونو ور اخوا جګړه وه هغوی مات نه شول نو په خپل ګاونډ افغانستان کې به یې څنګه مات کړو.

امریکایي ماهرینو چې په ویټ نام کې یې له داسې خلکو ښه وهل خوړلي وو چې قدونه یې څلور فټه او پنځه اینچه وو دا ورته نهایت سخت او له امکان لرې ښکاریدل چې دلته دې هغوی له شوروي لښکرو سره جګړه کې برى خپل کړي.

په ډیرو ناستو کې د پاکستان پوځ هغوی ته د قناعت ورکولو هڅه کړې خو یا خو لکه هغوی چې نه پوهیدل یا یې نه غوښتل. غوښتل یې ضرور خو په دې باور نه و چې ګوندې دې جګړې ته په ور ګډیدو به دوی بر لاسه شي خو دا د پاک پوځ د زړورو او وطن دوسته جنرالانو او مامورینو هلې ځلې وې چې یو لوی اوس خت جنګ یې د امریکا له پاره اسانه کړ.

اوس هم هغه امریکا را پاخیږي مونږ ته وایي چې تاسو ترهګر پالی. جنرال پرویز مشرف ته مې یوه ورځ مخامخ وویل چې ته ولې امریکا ته نه وایي چې یو وخت ستا سو ضرورت و هر څه مو کول اوس چې زمونږ ضرورت دی ولې راته مخ کې دریږئ خو پرویز مشرف کې دا وړتیا نه وه چې د پاک

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوځ نه دفاع وکړي.

مونږ چې کله د امریکایي استازو سره د افغان مجاهدینو د جګړو راپورونه او پرمختګونه شریک کړل او دا چې دا مجاهدین څومره په جذبه جګړې ته دوام ورکوي امریکا پوی شوه چې د بخت ستوری یې بیدار شوی او ډیره ژر دا لوبه دهغوی په ګټه تمامېدلای شي نو هم هغه و چې امریکا د هر ډول مرستې په را کولو راضي شوه.

هغه مهال چې شوروي افغانستان ته را دننه شو مونږ خپلې اندېښنې امریکایانو سره شریکې کړې خو د امریکا ولسمشر جیمي کارټر له مونږ هیله وکړه چې نه دوی او نه هم پاکستان باید د افغانستان مسلې ته لمن ووهي. دا مهال امریکا د افغانستان په شمول یوه داسې سیاسي جعرافیه منلې وه چې واک یې د شوروي سره دی.

خو زمونږ له پاره دا معادله بیا د منلو نه وه، که مونږ بې غمه کېدلی نو هلته ورځ تر بلې د هندوستان اثر او رسوخ مخ پر زیاتېدو و، د افغانستان پوځ او حکومت په پخو دربېده او افغانستان کې اقتصادي پراختیا او سیاسي پوځي ځواکمنتیا ددې لامل کیدله چې د دې سیمې په اړه په هره سیاسي معادله کې د پاکستان پر ځای افغانستان ته ځای ورکړل شي. پاکستان دومره ډیر چانسونه نه درلودل چې د نړۍ د سیاسي معادلو برخه ګرځیدلای وی نو ځکه که د امریکې د مشرانو خوښه وه او که نه مونږ باید دې جنګ ته داخل شوی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر ټولو مهمه خبره لا دا چې مونږ هم هغه مهال د افغانستان سره په یو جنګ ښکیل و. هغوی د پښتنو او بلوڅو په پارولو سره پاکستان بې ثباتولو کولو او د مجاهدینو پاللو اور وزلو سره مونږ د افغانستان حکومت ته ښه درس او غبرت ورکولای شو، چې که تاسو زمونږ مخالفان د پاکستان د بې ثباته کولو له پاره په شا ټپوئ نو ستاسو خوږ رګ مو هم پیدا کړی او په همدوی سره به ستاسو رینښې درپربکړو چې تاریخونه به بیا دا معرکه یاده ساتي.

د امریکا حکومت په دې نظر و چې افغانستان کې لاس وهنه به د دې سبب شي چې د شوروي لښکرو ته بهانه په لاس ورشي او په اسلام اباد او بیا تر کراچۍ پورې د خپل واک مزي وغځوي.

له دې کبله دغه مهال مونږ مجبور و چې خپل کارونه خپله مخ ته یوسو او په پټه توګه د ایس ایس جي دوه سوه افسران د افغان مجاهدینو په روزنه کې برخه واخلي ددې له پاره مونږ ۱۲ ټیمونه جوړ کړي وو ، په دغه وخت کې مونږ تقریبا ۹۵ زره افغان مجاهدینو ته بیلا بیل د جنګي زدکړو روزنه ورکړې وه او هغوی هم ډیر په ښه شان مخکې روان وو.

هغه کسانو ته چې مونږ ټرینګونه ورکړل په هغوی کې امیر المومنین ملا عمر او شیخ اسامه بن لادن هم وو، چې دوی د افغان جهاد له پاره مونږ سره ټریننګ شوي وو او پوځي روزنه یې زمونږ د همکارانو د سیوري لاندې لیدلې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو کله چې افغان مجاهدینو له هر لورې په شوروي لښکرو او افغان حکومت بریدونه پیل کړل او هغوی ته یې درد او تکلیف ورسوه نو د امریکا ولسمشر جیمي کارټر وویل د افغان مهاجرینو له پاره مونږ د پاکستان مرستې ته چمتو یو او څلویښت میلیونه ډالره مرسته له پاکستان سره کوو.

کله چې لومړي ځل صدر کارټر د څلویښت میلیونه ډالرو د راکړې خبره وکړه نو جنرال ضیاالحق ورته کړل؛( "Thank you very much, this is handful of peanut,we don't need it ")

« ډیره زیاته مننه! ستاسو له خاورو ډکو ممپلیو ته اړتیا نشته» دا د امریکا په ولسمشر غټ طنز و ځکه چې یو خو د جیمي کارټر ریاست د ممپلیو له کبله زیات مشهور و او بل خپله کارټر د ممپلیو یو لوی سوداګر هم و نو ضیاالحق ورته له همدې له پاره دا طنزیه جمله وکاروله.

«د یوې خبرې یادونه دلته ضروري بولم په لومړي سر کې زمونږ د حکومت دومره کلکه اراده نه وه چې دوی به دوامداره افغان مجاهدینو ته ځای او روزنه ورکړي بلکې بهټو صیب خو یواځې غوښتل چې د سردار داود هغه ارادې شنډې کړي چې د پاکستان د تقسیم له پاره یې لرلې.

بهټو صیب لومړیو کې ګڼله چې دوی به له دې لارې په سردار داود فشار راوړي او هغوی به راضي کړي چې له پاکستانه په کرار کیني خو کله چې پاک پوځ په دې کې شریک کړای شو نو زمونږ ملګرو میاشتې میاشتې کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وکړ چې څنګه له دې فرصته د يوې اوږدې مودې له پاره ګټه واخلي او هم هغه و چې مونږ په خپلو موخو کې تر ډېره بريالي شو خو له بده مرغه بيا زمونږ ځينو جنرالانو مونږ ته مشکلات جوړ کړل.»**

**کله چې په لومړيو وختونو کې روزل شويو مجاهدينو بريالي بريدونه وکړل او د کابل دننه او د افغانستان په يو شمېر ولايتونو کې د سپارل شوي پلان سره سم پاڅونونه او بغاوتونه پيل کړل نو امريکا محسوسه کړه چې په افغانستان کې د شوروي پر وړاندې کومه معجزه کېدونکې ده.**

**دا هغه ورځې وې چې ما د خپلو زحمتونو ثمره په خپلو سترګو ليدله، دا به څومره د خوشالۍ خبره وه ما له پاره چې ما د زدکړو مهارتونو نتيجه په خپلو سترګو ليدله او دا هغه ځای و چې له ځان سره به مې ويل همدې کارونو له پاره زه خدای پاک پاکستان کې پيدا کړی وم.**

**دا دعوه ما ځکه کوله چې لومړی ځل د پوځ په استازيتوب په دې جګړه کې رول ماته را سپارلی شوی و او زما کارونه ډېر ښه مخ ته روان وو.**

**د افغانستان جهاد په اړه د امريکا او پاکستان ترمنځ د خبرو اترو دا لړۍ همداسې روانه وه چې د جيمي کارټر د ولسمشرۍ دوره هم پوره شوه او ريګن د امريکا د نوي ولسمشر په توګه واک ته ورسيد له يو تفصيلي راپور او ارزونې وروسته ولسمشر ريګن خپل مشاور او د سي ای ای مشر ويليم کيسي پاکستان ته را وليږل، هغوی مونږ ته د هر ډول مرستو وړانديز وکړ او زياته يې کړه چې د هر ډول همکارۍ له پاره امريکا تاسو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سره ده، خو جنرال ضیاالحق په ډیر میړانه ځواب ورکړ چې روان بهیر چې ځنګه روان دی همداسې یې پرېږدئ او تاسو په کې هیڅ مداخله مه کوئ مونږ پوهیږو چې څه وکړو، ضیاالحق دا هم ورته وویل چې که زمونږ په کارونو کې تاسو ته کوم مشکل ښکاري نو تاسو راته لارښوونه وکړئ باقي د پاکستان پوځ هرڅه مخ ته په سمه توګه وړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغان مجاهدین، بهتو او د سردار داود ملاقات

افغان حکومت په ۱۹۴۶ کال کې د ډیورنډ لاین په اړه برتانوي حکومت ته خپل تحفظات وړاندې کړل خو د کانګرس له خوا په دې تړاو کلک غبرګون رامنځ ته شو افغانستان ته یې ګواښونه هم وکړل.

په هندوستان کې د عبوري حکومت جوړېدو سره سم چې د بهرنیو چارو د سمبالښت له پاره په کې جواهر لال نهرو ټاکل شوی و.

نهرو د افغانستان د حکومت ادعا رد کړه او زیاته یې کړه چې که په تاریخي مسایلو کې بوختیږو نو افغانستان مجبور دی چې یوه لویه اندازه نوره ځمکه هم له لاسه ورکړي.

خو د پښتونخوا اړوند د ریفرنډم وروسته د هندوستاني حکومت فکر او نظر بدل شو او د افغانانو د فکر او داعیې پلوی ته یې ملا وتړله چې ورسره سم په پاکستان کې د دوی لاس وهنې زور واخیست او په صوبه سرحد کې د قومي خوځښتونو یې تازه جوړشوي پاکستان ته د مشکلاتو د جوړولو هڅې شروع کړې تر دې چې په ۱۹۴۸ کې د اګست ۳۱ د کابل حکومت له خوا د پښتونستان ورځ وټاکل شوه چې په لویه کچه به یې لمانځه کیدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا ډول د کابل په منځ کې د پښتونستان په نوم يو څلور لارى ونوموه چې د پښتونستان جنډه به پرې هسکه وه. يواځې دا نه په ۱۹۵۵ د مارچ په ۳۰ په کابل کې د ټولو سفارتي اصولو په خلاف د پاکستان په سفارت حمله وکړاى شوه او هلته يې د پښتونستان جنده ولګوله.

خو کله چې سردار داود واک په لاس کې واخيست په پاکستان کې ددغه هيواد لاس وهنې نورې هم زياتې شوې. اصلا افغانان خپله نه و بلکې تر شا يې روسيه او هندوستان و چې پاکستان کې لاس وهنو ته يې هڅول.

داود خان فکر کولو چې د بنګلديش په څېر به دوى هم وکولاى شي چې صوبه سرحد له پاکستانه جدا کړي او د هندوستان مشوره هم ورته دا وه چې د بنګلديش په څېر به صوبه سرحد هم له پاکستانه جدا شي او دوى به په خپلو خرابو نيتونو کې بريالي شي.

خو دوى ډير ژر د شکست سره مخ شول د وخت په تېرېدو سره داود خان هم پوى شو چې روسيه او هندوستان هغه ډول نه غواړي څنګه چې افغانان د صوبه سرحد په اړه فکر کوي.

همدا ډول له بل لورې د سردار داود خان خلاف پاکستان ته را هجرت شوي ځوانان هم په بريدونو کې مخکې روان و او سردار داود خان ته يې د خپل موجوديت احساس ورکړى و.

کله چې مې لومړى ملاقات د هغه مهال د کورنيو چارو له وزير نصير الله بابر سره وشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د ځينو نورو سپارښتنو ترڅنګ له ما دا هيله هم وکړه چې دې برخې ته ځانګړې پاملرنه وکړم ځکه چې ذوالفقار علي بهټو په دې اړه ډېر جدي دی او هرڅومره چې کيدلای شي علاقه لري سردار داود ته داسې څه ورښکاره کړي چې له کبله يې هغه له پاکستانه مخ وګرځوي.

يعنې د بهټو صيب په فکر دا يو مهالنی کار و چې بايد ترسره شوی وی او هم هغسې وشو.

مونږ ډېر ژر افغان حکومت دې ته چمتو کړ چې پاکستان سره خبرو ته کيني او دپاکستان ضد کړنو نه لاس واخلي. بهټو صيب په دې برخه کې د نظامي فشار ترڅنګ د ايراني حکومت نه هم همکاري وغوښته چې افغانستان پاکستان سره ګډې مفاهمې ته وهڅوي.

سردار داود چې د شوروي څخه ناهيلی شوی و او تازه تازه يې په شوروي کې د بيرژنيف سره په يوه رسمي ناسته کې اړيکې هم خرابې شوې وې دا يې ښه فرصت و باله او پاکستان ته د نږدې کېدو لاس يې را وږد کړ.

بهټو صيب د ۱۹۷۶ کال د جون له ۷ مې تر ۱۱ مې نيټې پورې په يو رسمي سفر کابل ته لاړ او هلته يې د حکومت سره د دواړو هيوادونو په اړيکو او همکاريو بحثونه وکړل.

او هغه فرصتونه چې په دواړو هيوادونو کې و له هغې په ګټې اخيستنې سره د دواړو هيوادونو ترمنځ د تعلقاتو يو داسې فصل پرانيستل کيده چې د دواړو ملکونو په خير و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دې پورې چې د دواړو ملکونو ترمنځ د هوايي تګ راتګ د بندو شويو لارو د خلاصون هوکړه هم وشوه.

له هغې وروسته په ۱۹۷۷ کال اکتوبر مياشت کې جنرال ضياالحق هم کابل ته لاړه او په حقيقت کې د بهټو صيب له خوا د افغان حکومت را ناراضه شوي مجاهدينو اړوند پيغام رسول او پوښې همکاريو وړانديز و چې ضاالحق بايد د افغانستان حکومت ته ورکړی وی.

په پاکستان کې د سردار داود خان په خلاف را مهاجر شويو ځوانانو باندې د محدوديتونو د وضع کولو او هغوی سردار داود ته په تحويل او يا له پاکستانه په ويستلو هم خبرې ډيرې مثبتې خوا ته روانې وې.

د ضياالحق له دورې وروسته ټاکل شوې وه چې سردار داود هم راشي نو يوه ورځ راته بابر صيب ويل چې سلطانه! ستا مننه چې مهم وخت کې دې يوه مهمه دنده پر مخ يوړله خو د بهټو صيب خواهش دی چې دا لړۍ مونږ همدلته نوره بس کړو مونږ د جمعيت اسلامي د مشرانو سره خبرې کړي هغوی به له کابله د راغليو ځوانانو سره خبرې اترې وکړي چې ياېې بيرته خپل هيواد او يا يې هم داودخان سره خبرو کولو ته چمتو کړي.

تر دا مهاله چې په دې برخه کې تر نورو ادارو حکومت ډير فعال و مونږ هم څه نه شو ويلی چې څه وکړو او څه به کوو خو د يو وخت له پاره مو د مجاهدينو د روزنځ لړۍ ودروله خو زړه مې ناقراره وه او داسې مې انګيرله چې د مجاهدينو د روزنې لړۍ نه بايد وځنډول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخصا زما وخت ناوخت افغان مجاهدینو سره ملاقاتونه کیدل او سلا مشورې مو سره کولې خو په رسمي توګه د حکومت له لورې مونږ ته ددې لړۍ د بندولو سپارښتنه شوې وه.

کابل ته له دورې وروسته د افغان مجاهدینو په اړه د پاکستاني پوځ رول زیات شو او د صدر داود د مړینې او د نور محمد ترکۍ د واکمن کیدو سره سم مونږ بیرته خپل کار ته دوام ورکړ او ډیر په شدت مو کار شروع کړ.

جنرال ضیاالحق نورمحمد ترکي ته چې د شوروي اتحاد له خوا د استاد لقب هم ورکړل شوی و یو خط ولیږلو او د مبارکۍ ترڅنګ یې ګاونډیو هیوادونو ترمنځ د ښو اړیکو غوښتو هیله هم څرګنده کړه خو داسې د خوښې وړ ځواب مو ترلاسه نه کړ.

د بې طرفه هیوادونو په کانفرانس چې د کیوبا په هوانا ښار کې جوړ شوی و د نورمحمد ترکي او جنرال ضیاالحق ترمنځ یو ځانګړی ملاقات هم وشو.

ضیا صیب له راستنېدو روروسته وویل چې ترکی هم د شوروي په موګي مست دی او د صوبه سرحد د مسلې نه نه تیریږي.

که یو طرف افغان حکومت د شوروي اتحاد او هندوستان په لمسون پاکستان کې لاس وهنې ته زور ورکړی و بل لورې پاکستان ته را مهاجر شوي مجاهدینو ډله هم پراخیدله.

یو مهال مونږ ته ضرورت پیدا شو چې د مجاهدینو له خوا یو مهم پیغام کابل کې موجودو نورو مجاهدینو ته ورسوو، هغه مهال زمونږ لاسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره اوږده نه و نو ښه و یو هلکی چې صوبه سرحد کې د پوهنتون استاد و او مونږ سره په یو بل پراجیک کې کار کوونکی و د هغه کابل کې ځینو کسانو سره خاص اړیکې وې او باور پرې نه کیدلو چې د څه له پاره تللی بلکې هغه وخت به له صوبه سرحد نه ډیر شاعران او لیکوالان تلل او دا به اکثر هغه کسان و چې د پښتونستان خبره یې کوله او د افغانستان د قبایلو وزارت به په دوی سرمایه ګذاري کوله.

ځوانکي زمونږ پیغام تر خاصو کسانو رسولای و پاکستان ته د راغلیو مشرانو د خاصو سپارښتنو یوه نقشه له هغوی سره شریکه کړای شوه.

په یو هیواد کې د ګډوډۍ جوړولو هغه تجربه چې ما یې په اړه امریکا کې زده کړې کړې وې وخت را رسیدلای و چې باید همدلته مو باید عملي کړی وی. دا زما شخصي کار نه و بلکې د پاکستان د سالمیت له پاره مو باید دا کار کړی وی اوس به خلک وایي چې د پاکستان پوځ دا وکړل او هغه یې وکړل خو دا ډیره ګرانه ده چې دوی درک کړي هغه مهال مونږ ته د څه کولو ضرورت و.

دغه ګډوډي رامنځ ته کول که څه هم دومره ډیر لوی نه و چې د کمیونیستانو حکومت دې پرې له منځه لاړ شي خو په خپله د شوروي اتحاد او دافغان حکومت ترمنځ د ناباواریو او د ستونزو د زیاتېدو پر سر مونږ ته د اغیز اچوونکي کار فرصتونه ورځ تر بله زیاتېدل.

د حفیظ الله امین د وژلو او کابل ته د شوروي لښکرو په را دننه کیدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ هغه خوب ریښتیا شو چې په افغانستان کې د یو سراسري شورش او بغاوت ته لاره هواره شي.

دا هغه مهال و چې د صدر ریګن له خوا پاکستان سره د زیاتو مالي مرستو ژمنې هم شوې وې او عملي لړۍ یې هم شروع شوې وې.

زه ذوالفقار علي بهټو ته په ډېر احترام قایل یم هغې د پاکستان له پاره د یو لوی کار بنسټ کېښود په هغه مهال کې مې یوه ورځ نورو ملګرو ته وویل کاش بهټو صیب دا هرڅه په خپلو سترګو لیدلای وای چې څنګه د پاکستان یو دښمن هیواد د پاک پوځ د زړورو افسرانو د زحمتونو په بدل کې د پاکستان په یو ژغورونکي جعرافیې بدل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغان جهاد او د امریکا مرستې

په اتیایمه لسیزه کې د پخوا په نسبت د امریکا مرستې او کومکونه له پاکستان سره دومره زیات شول چې مونږ هم حیران شو چې امریکا او دومره مهرباني؟

سره له دې چې ما د امریکایانو سره ډېر ټرینګونه اخیستي و خو ډیرې خبرې داسې وې چې یواځې د مشرانو سره وې او مونږ هغه څه کول چې د مشرانو له خوا یې راته سپارښتنه کیدله.

زه او ما سره د آی ایس آی کابو له ۲ سوه زیاتو لوړ رتبه افسرانو د هلالي جنډې د هسکې ساتلو له پاره مسلسل قرباني ورکوله او په ډېره ایمانداری مو خپلې چارې مخ ته وړلې.

زمونږ دملګرو له زړه دغې کار په افغان مجاهدینو کې یوه داسې شور او ولوله پیدا کړې وه چې د امریکا ولسمشرانو جیمی کارټر او صدر ریګن به یې تل صفتونه کول.

یوه شپه جنرال صیب ضیاالحق مونږ څو لوړرتبه نظامي افسران ماښامنۍ ته میلمانه کړي و د ضیاصیب لخوا همدا خبره وشوه چې کارټر او ریګن وایي افغان مجاهدین د اسلام ریښتیني ساتونکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې سره اول ضیا صیب او بیا ټولو حاظرینو ښه شیبه وخندل.

ما چې په امریکا کې د یو څه وخت له پاره زدکړې کړې وې او لګ ډېر د هغوی خلکو په کار او تکتیک پوهیدم دومره زیاته مهرباني د پوښتنې وړ وه.

کله به مو چې د ځینو کارونو په اړه د مسوولو افسرانو ترمنځ جلسه کوله نو د امریکا په اړه بحث به خامخا کیده.

په اتیایمه لسیزه کې پاکستان د نړۍ د اسلام فکره ډلو د تګ راتګ په یو مهم مرکز بدل شو. زیات عربان او د نورو اسلامي هیوادونو نه به میلمانه راتلل او لیدو کاتو ترځنګ به د اسلام اباد په هوټلونو کې دیره و. د عربانو په دغه منځ کې شیخ عبدالله عزام او شیخ اسلامه بن لادن هم راغلل چې هغوی د هوټلونو پرځای نیغ د مجاهدینو سره د اوسیدو پریکړه وکړه.

شیخ اسامه زما په څو ټرینګونو کې ګډون کړی د سعودي عربستان په اړه د هغه افکار عجیب او ماته یو ډول ډار تری کیده ځکه چې د امریکایانو سره یې هم ښه پالله خو بیا زمونږ نور همکاران ډېر بوخت شول.

په دغه مهال کې د مجاهدینو له پاره پرمختللې وسلې، وسایل او مالي مرستې هم ورځ تر بلې ډېرېدلې او سټینګر مزایلونه هم د افغان مجاهدینو له پاره پاکستان ته را رسیدلي وو، چې زمونږ د کار په لا ښه کولو او پراجیکونو په کامیابولو کې یې ډېر اغیز درلود.

په خپله افغان مجاهدین هم دغو مرستو ته ډېر خوشاله و، ماته یوه کیسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



را یاده شوه په ۱۹۸۶ کال خبره ده، د امریکا د پارلمان یو غړی چې د افغان جهاد په ملاتړ او حامی یې زیات شهرت درلود چارلي ولسن پاکستان ته راغلی و، په اسلام اباد کې له ملاقات او مهمو رسمي جلسو وروسته یې له ما هیله وکړه چې یو روزنیز کمپ ته یې له ځان سره یوسم.

په هغې ورځ مونږ د میزایلونو په اړه ځانګړی درس درلود چې ولسن هم راسره په کې حاضر و.

د امیرګل باچا په نوم یو ځوان کماندړد ټرینښنګ پر مهال د ستینګر میزایل په کتلو سره هغه په غیږ کې واخیست او د خوشالۍ رقصونه یې شروع کړل. چغې یې وهلې او کله به یې میزایل مچې کړ او کله به یې مونږ ته را وکتل.

چارلي ولسن راته کړل چې غواړي له دې زلمي سره خبرې وکړي، ما امیرګل باچا ته غږ کړ، یه هلکه دلته راشه!

ولسن وویل له ده وپوښته چې په دې مرسته خوشاله دی؟

ما د چارلي ولسن پوښتنه له امیرګل باچا سره شریکه کړه، هغه سر د انکار په توګه وخوځوه.

امیرګل باچا ویل چې امام صیب ده ته ووایه چې زه په دې مرسته نه یم خوشاله.

ما چې د امیرګل باچا خبره ولسن ته ترجمه کړه هغه حیرانه شو چې ولې؟

ما د ولسن خبره امیرګل ته ترجمه کړه، امیرګل وویل چې دا له ځمکې ویشتل کیږي خو مونږ نه شو کولای چې په دې سره د شوروي الوتکې پرې وولو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترخو پورې چې مونږ د شوروي الوتکې او جهازونه را ګوزار نه کړو په دې زمونږ کار نه کیږي.

چارلي ولسن چې کله د امیرګل باچا خبره واوریده یو دم په خپل ځای کې ودرید ماته یې کړل:

"Col. he has given me a big slap on my face,I will go back and get him stinger":

( امیرګل خو زما په مخ ښه څپیړه راکړه زه ځم او دې له پاره ستینګر میزایل راوړم.)

چارلي ولسن ریښتیا هم بیا ډیر په لږ وخت کې افغان مجاهدینو له پاره ستینګر میزایل راوړل.

یوه خبره چې مونږ یې د امریکا په همکارۍ تل شکمن کولو او د یو باوري دوست په سترګه مو ورته نه شو کتلای هغه مونږ سره د دوی چلبازي وه.

زما اکثرو ملګرو به ویل ولې امریکایان مونږ ته له مصر او نورو ځایونو څخه روسي او چینایي وسلې اخلي او مخامخ خپلې وسلې نه راکوي شاید امریکا په مونږ باندې کارونه کول غوښتل او خپله یې نه غوښتل چې په جګړه کې مخامخ له روسیې سره ښکیل شي.

خیر په امریکا کې د چارلي ولسن لابي او دلته زمونږ کار د دې سبب شول چې په ورکړل شویو وسلو او میزایلونو د شوروي په ماته کې له مونږ سره همکاري وکړي او دا لړۍ چټکه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جینوا معاهده، ضیاالحق او افغان جهاد

ویل کیږي چې په سیاست کې همیشنی دوست او همیشنی دښمن نه وي دا بیخي سمه خبره ده کله چې د یو هیواد ګټې مطرح وي او د ملک د بقا مسله وي هلته باید او باید دوستي او دښمني د خپلو ګټو پر اساس تعریف کړای شي، له بده مرغه د ذولفقار علي بهټو د حکومت په ورستیو وختونو کې زمونږ دملک بهرنی سیاست یوې بلې خوا ته په تلو شو، د پیپل پارټۍ د مشرانو ترمنځ داسې نظریاتو ځای و نیولو چې هغوی له هغه خطه په اوښتو شو کوم چې زمونږ د پوځي قیادت او د امریکا ترمنځ یوه مشترکه لاره ټاکل شوې وه.

هر څو که هغه مهال د سیاسي مسایلو او ادلون بدلون سره څه سر و کار نه و خو راته یاد شي چې بهټو صاحب پارلمان ته په خپله وینا کې د سپین فیل( امریکه) په اړه توندې څرګندونې وکړې او زیاته یې کړه چې سپین فیل ورڅخه خفه دی، په همدې غونډه کې یې د خپل بهرني سیاست اړوند ځینې خبرې هم کړې وې خو تر ټولو د ټینګار نکته یې د پاکستان او امریکا ترمنځ رامنځ ته شوې نظریاتي فاصله وه.

په دې شرایطو کې د پاکستان دننه سیاسي خرج و مرج او په پوځ باندې نیوکې او د پوځي چارواکو د بې وخته ادلون بدلون نغارې هم د پیپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



پارټي او حکومتي چارواکو له خوا و غږول شوې چې دا سراسر زمونږ په تاوان وې، د پاکستان حکومت باید تر یوې مودې صبر کړی وی چې په سیمه او نړی کې څه رامنځ ته کېدونکي دي له هغې وروسته مونږ کولای شو چې د خپل هیواد او همدا ډول د خپل هیواد د ګټو په اړه په سړه سینه یوه پرېکړه وکړو.

د ۱۹۷۷ م کال د جولاي په ۵ نیټه د پوځي قیادت پرېکړه دا شوه چې پیپل پارټی نه حکومت په لاس کې واخلي او د پاکستان د آیین د ځینو مادو په تعطیل سره تر یوه وخته پورې پوځ د ملک چارې پر مخ یوسي.

ددغې پوځي کودتا په پایله کې جنرال ضاالحق د واک چارې په لاس کې واخیستې او بیا د وخت په تېرېدو ریفرنډم هم وشو او په دې توګه د ضیا صیب په حق کې د صدارت پرېکړه وشوه.

دا د افغان جهاد ډېر بهترین دور و او ضیا صیب وکولای شول چې په ډېره میړانه پاکستان له ټولو خطراتو څخه را بهر کړي او دخپلو لویو اهدافو له پاره د نړیوالو قوتونو په ملګرتیا په سیمه او نړی کې د پاکستان له پاره یو نوی ځای پیدا کړي.

دا ځکه ضروري و چې زمونږ دښمن هیواد هندوستان د افغان حکومتونو په ملګرتیا په بلوچستان کې مونږ ته د اور بوزغلي کرلو په کوښښ کې و، بلخوا روسیه هم د هندوستان په طرف وه او په داسې حالاتو کې د بهټو صیب په څېر پریکړه کول نه یواځې پاکستان یواځې کول وو بلکې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلاګانو خولې ته يې اچول وو.

صدر ضياالحق په هره غونډه هره ناسته کې د افغان جهاد له پاره نه ستړې کېدونکې هڅې وکړې او کابو ۸ کاله هڅو او کار وروسته ضيا صيب په مجاهدينو کې داسې يو ځاى پيدا کړ چې افغان مجاهدينو د خپل يو مشر او خواخوږي په توګه ګڼلو، جهادي مشرانو به له ضيا صيب سره مشورې کولې او ده به هم په خپلو خاصو ناستو کې هغوى ته ضيا ورکولو.

يوه بله خبره مې چې له ياده ونه وځي رچرډ ويلسن او دهغه د ملي امنيت مشاور هنري مکسنجر هم په دې ډېر زور راوړلو چې د اشتراکيت او لادنيت پر وړاندې يواځينى سپر هغه ديني او اسلامي نظام کيدلاى شي او د ضيا صيب هم همدا خيال وو، هم هغه و چې ضيا صيب د مذهبي ګوندونو په ملاتړ په پاکستان کې هم د اسلامي نظام د رامنځته کولو وړانديز وکړ او ددې کار له پاره يې پوره هلې ځلې وکړې.

ضيا صيب له ۱۹۷۷ د جولايي له ۵ مې تر د جينوا د معاهدې افغان جهاد سره دومره نږدې پاتې شو چې دا د افغانانو د بابا په نوم مشهور شو او کله چې د الوتکې د چاودنې پيښه رامنځ ته شوه ما خپله کتلي چې افغان کماندړانو او مجاهدينو په سرو سترګو ضيا صيب پسې ژړلي دي .

ضيا صيب زمونږ ملګرو ته د هر ډول همکارۍ راکولو ډاډ راکړى و او حوصله يې راکوله چې کله لږه نوره سختۍ هم وګالو پاکستان له يو مشکل وخت نه وباسو او بيا به په دې سيمه زمونږ د بيرغ واکمني وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضیاالحق صیب له کودتا پوره اته کاله وروسته خپله وفا پوره کړه او په پاکستان کې د ګاکنو له پاره یې اعلان وکړ خو بیا هم ځینې سیاسي ډلو مخالفت وکړ او په دې سره سیاسي کړکیچ لا پسې زیات شو.

خو د ګاکنو په پایله کې سیاسي قیادت د محمد خان جنیجو د لومړي وزیر په توګه وټاکل شو، محمد خان جنیجو د ایوب خان په وخت کې هم حکومت سره د مواصلاتو د وزیر په توګه کار کړی و، ضیاصاحب داسې ګڼله چې نوموړی به له دسره ډیر هم فکره وي او په دې توګه به پاتې کارونه سم مخ ته لاړ شي خو داسې ونه شول او د ځینو نورو مسایلو ترڅنګ د جینوا معاهدې په اړه د دواړو ترمنځ شدید اختلافات رامنځ ته شول.

زه چې وایم امریکا له مونږ سره تل جفا کړې او مونږ یې تل په خپلو کې په جنګ اچولي یو نو دلته وایم کنه چې ډیر ژر د امریکا سیاسي قیادت د محمد خان جنیجو سره خپل روابط پاخه کړل او له هغه یې د جنیوا معاهدې په اړه همکاري وغوښتله.

ضیا صیب د جنیوا معاهدې سره جوړ نه و، هغه نه غوښتل چې د دومره لوی برې نه وړاندې په داسې شکل مونږ دې جنګ نه په شا شو چې اتیا سلنه د ګټې پریکړه یې زمونږ په حق کې کیدله.

ضیا صیب نه غوښتل چې د جنیوا معاهده دې د افغان جهاد لاسته راوړې ثمره ضایع کړي بلکې هغه وخت د پاکستان پوځي قیادت نظر دا و چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**قیادت باید جهادي ډلو ته وسپارل شي خو داسې ښکاریده چې امریکا له دې سره جوړه نه وه، او د امریکا له پاره دا مهمه وه چې د جنیوا معاهده لاسلیک شي او په هغې کې د پاکستان موجودیت هم یې ضروري ګڼلو. هغه وخت هم زمونږ دا خیال و چې ددغې معاهدې په امضا سره امریکا پاکستان بدنامول غواړي او خپلو نورو مقاصدو ته رسیدو له پاره په یو داسې کار لاس پورې کوي. خو بدقسمتي دا وه چې مونږ سره چا لومړي لاس معلومات نه شریکول او بل مونږ هم دا د ځان له پاره غوره ګڼلې وه چې څه کیدونکي دي بس مشران شته او هغوی پوهیږي چې څه وکړي مونږ خو د حکم تابع و او هغه څه مو باید کړای وی چې را سپارل شوي و.**

**که د جنیوا معاهده هغه ډول شوی وای څنګه چې د پاکستان پوځي قیادت غوښتله نو زه باور لرم چې اوس به مونږ په افغانستان کې یو داسې ورور اسلامي هیواد درلودلای چې د پاکستان سلامتیا به په کې خوندي وی. ما په خپله د جهادي کماندرانو او مشرانو نه اوریدلي و چې دوی به ویل مونږ د داود خان او د کمیونیستانو غوندې حکومتونه نه جوړوو چې په خلکو ظلمونه او غیر اسلامي کارونو ته دروازې خلاصوي بلکې مونږ اسلامي نظام جوړوو د کوم له پاره چې مونږ وینې ورکړي دي او کلونه کلونه مو جګړې وکړې.**

**د جنیوا له معاهدې وروسته د پاک پوځ د مشرانو نظر دا و چې د وزیر اعظم په توګه د خان محمد جنیجوپاتې کیدل نور د پاکستان له پاره مناسب نه دي، خو ډیر وخت لا تیر نه و چې د ضیا صیب د الوتکې د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاودنې پېښه رامنځ ته شوه او په دې توګه افغان جهاد ته یوه غټه صدمه ورسیده، امریکا په خپل هدف کې بریالۍ شوه روسیه له افغانستانه خپل پوځونه وویستل، افغان مجاهدین خپل هدف ته ورسیدل او د نجیب حکومت یې نسکور کړ خو د جنیوا د معاهدې د امضا له کبله تر ټولو نه جبران کیدونکی تاوان پاکستان ته ورسید او د کلونو کلونو خوارۍ یې په اوبو لاهو شوې.

دا به تاریخ یاد ساتي چې خان محمد جنیجو افغان جهاد ته غټه ضربه ورسوله.

د روس له ماتې وروسته امریکا له افغانستانه سترګې واړولې او ټولې لانجې او ستونزې یې پاکستان ته پرېښودې چې پاکستان په کې خپل دوستان هم له لاسه ورکړل او په داخل د پاکستان کې هم بلا شی ستونزې وزیږېدلې. مجاهدین د یو اسلامي نظام په جوړولو کې پاتې راغلل، خپل منځي اختلافات ددې سبب شول چې د جهادي تنظیمونو سوچ د پاکستان په اړه خراب شي او د پاکستان مخالفو قوتونو ته د ګوتې کېښودو ځای پیدا شو.

هغه ډول چې مونږ غوښتل د مجاهدینو حکومت هغسې جوړ نه شو، مونږ خو دا ګڼله چې افغانستان به د پاکستان لکه د پنځمې صوبې په شکل وي مونږ به د یو ښه ګاونډي هیواد په توګه له دې سیمې هر ډول ګټه اخیستلای شو او دا جعرافیه به کله هم زمونږ په خلاف بیا استعماله نه شي او نه به هم د پاکستان دښمن دلته د پښې کېښودو د ځای پیدا کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جوګه شي خو دا هرڅه یو خوب شول او مونږ په تش میدان پاتې شوو.**

**مونږ ډیر کوشش وکړ چې د جمعیت اسلامي او حزب اسلامي په مشرۍ افغانستان یو سیاسي حکومت جوړ کړي خو ددوی ترمنځ اختلاف، جنګونو او شخړو مونږ په یو بل فکر مجبور کړو او دا مو د ځان له پاره یوه ښه لاره وبلله چې د طالبانو ملاتړ وکړو او یوه سیمه د ځان له پاره خوندي پیدا کړو.**

**هم هغه و چې د مجاهدینو ترمنځ له یو اوږد ځو کلن جنګ وروسته طالبان دخلکو له پاره د سولې د فرشتو په توګه را پیدا شول او په ټول افغانستان یې قبضه وکړه او مونږ ته یې د پاکستان د خوندیتوب یو نوی فرصت په لاس راکړ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طالبانو اسلامي امارت

# افغان جهاد او ۳۵ مثالي ځوانان

د افغان جهاد د غوړیدا ورځې وې، ورځ تر بلې به ښه خبرونه راتلل، روسي او کمېونستي لښکرو ورځ تر بلې خپل مورال له لاسه ورکولو او افغان مجادینو پیش رفت کولو خو د مشرانو له خوا یوه ورځ د یو ضرور کار له پاره را وغوښتلای شوم.

کله کله به زه حیران شوم چې د ځینو دومره مهمو مسایلو باور ولې پر ما کیږي، خو بیابه مې چې خپل ځنګ کې د آي ایس آی خپل وطن دوسته افسران ملګري ولیدل چې ماسره به یې په ډیره میړانه او مینه د پاکستان له پاره شپه ورځ کار کولو نو سر به مې له ویاړه هسک شو او شکر به مو وکړ چې دومره یو د پاکستان له پاره جنګیږو او د پاکستان له پاره خوله تویوو، د افغانستان او نړۍ له ګوډ ګوډ څخه د راغلیو مجاهدینو له پاره د پوځي لنډ مهاله او اوږدمهاله زدکړو دغه لړۍ مونږ ته په یو عشق بدله شوې وه، ځکه چې په دې کې مو په مستقیم ډول د پاکستان د بقا خوبونه لیدل او هغوی مجاهدینو به هم مونږ سره ډیره همکاري کوله او زمونږ مشورو او لار ښوونو ته به یې غوږ نیولو. نو زمونږ ددې دومره اعتماد او بریالیتوب راز په همدې کې و چې دا جنګ مو د پاکستان له پاره مهم باله

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دلته سترتيا مو زغمله.

د ۱۹۸۵ کال ميلادي په اوږدو کې زمونږ د ملګرو د راپوروونو پر اساس مونږ ډير پرمختتګ کړی د آی ایس آی او پاک ارمي د مشرانو دغه جلسه کې زما ډيره هيله دا وه چې زمونږ په لاسته راوړنو او پرمختګونو به غرېږو له مونږ به شکريه کيږي او شاباسی به راکولی کيږي.

داسې فکر راسره و چې هرڅه زمونږ لاس کې دي او نږدې راتلونکي کې به لويه خوش خبري تر لاسه کړو، خو د مشرانو او پوځي چارواکو په دغه جلسه کې چې کومه اندېښنه را پورته کړای شوله له مايې هرڅه هير کړل.

د آي ایس آی د يو اوږد خيږنيز راپور له مخې ورځ تر بلې په افغان مجاهدينو د نورو هيوادونو د استخباراتو او ايجنسيو اثر او روسوخ مخ پر زياتېدو و، تر دې پورې چې د کره ثبوتونو سره دا روښانه شوې وه چې د افغان مجاهدينو د يو يو شمير مشرانو له خوا په ښکاره د آي ایس آی د افسرانو مخالفت کيدلو، د هغوی له لارښوونو سرغړونه کيدله او په ورسپارل شويو نقشو عمل نه کيده.

په دې راپور کې دا هم راغلي و چې ځينې جهادي کماندړان په پاکستان بد ګمانه شوي او فکر کوي چې هر څه د امريکا له خوا دوی ته ورکول کيږي او آي ایس آي په ورکړل شويو مرستو کې خورد بورد کوي نو له دې کبله د ځينو هغوی پام يې بل خوا اوښتی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د آی آیس آي هغه افسرانو چې د امریکایي مشاورینو تر نظارت لاندې یې افغان مجاهدینو سره کار کولو خپلو راپورونو کې ویلي و چې ورځ تر بلې د امریکایي ایجنسیو اړیکې افغان مجاهدینو سره ښه کیږي.

اخوا د ایران اسلامي جمهوریت له لورې هم افغان مجاهدینو سره د مرستو لړۍ پراخه شوې وه، انګلیس، فرانسه او جرمني هم روابط مضبوط کړي و.

د استاد سیاف له خوا عربانو سره ډیر ښه کمونیکیشن شوی و او مرستو یوه لویه برخه د جلال الدین حقاني د دفتر او استاد سیاف د دفتر له خوا تر لاسه کېدلې او دا هغه څه و چې مونږ ته خواشینونکي وو.

په جلسه کې د اکثره مشرانو رایه دا وه چې د افغان جهاد دنګرانۍ مشري باید تل د پاکستان لاس کې وي او بل هرڅوک که دې میدان ته را ګډیږي نو باید د پاکستان له لارې خپل کارونه مخ ته یوسي.

د یو اوږد میټینګ او بحثونو وروستو ماته یوه نوې نقشه په لاس کې را وسپارل شوه.

مشرانو غوښتل چې زه د پنځوسو په شاوخوا کې نوی کماندران ټرینګ کړم، ددغو کسانو ځانګړتیاوې هم را وښودل شوې، دوی باید د عصري زدکړو پر ځای دیني زدکړې ولري. دیني زدکړې یې هم باید د نړیوالو عصري سستمونو پر ځای د مدرسو او جماعتونو له لارې تر لاسه کړي وي.

زمونږ داسې کسان پکار و چې هغه باید دینداره وي او په دې فاني دنیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



غولېدونكي نه وي.

د يو عالم سوچونو سره له دې جلسې را ووتلم او د يو نوي كار له پاره مې له تلوسې ډكې شيبې شمارلې.

په دې برخه كې د افغان مجاهدينو مرستې ته اړتيا وه نو مناسبه مې وګڼله چې د مولوي محمد نبي محمدي سره په اړيكه كې شم.

مولوي محمد نبي محمدي چې د افغاني مجاهدينو لنډرانو په منځ كې تقوا دار او پاک مجاهد و پاكستان سره يې خاص مينه وه او تل به يې مونږ ته د پاكستان د بقا دعا ګانې كولې.

مولوي محمد نبي ساده او مخلص انسان و د هرې مرستې له پاره به مو چې پرې غږ وكړ نو نه يې نه كوله.

د مولوي محمد نبي محمدي صيب ګروپ كې يوه ځانګړتيا دا وه چې د افغانستان زيات شمير ديني عالمان په دې ډله كې وو او د مدرسو طالبانو به هم دې خوا ته ډيره مخه كوله. هغه رنګه اشخاص چې زما پكار و هغه مې دلته پيدا كولاى شول.

په همدې دوران كې مې په يوه جلسه كې د مولوي صيب محمدي نه دهمداسې ځوانانو غوښتنه وكړه چې زه بايد هغوى ته ځانګړې روزنې وركړم.

د عيسوي كال ۱۹۸۵ د مى مياشتې ۷مه نيټه مې د روزنې لومړى دوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پيل کړه.**

**مولوي محمد نبي محمدي ماته د ۵۰ ځوانانو يو ليست راکړ او همدا ډول يو لست ځوانان مې په نورو ځايونو کې په نښه کړي و خو د ۶۰ ځوانانو له دې ډلې مې ۳۵ ځوانان بيل کړل، دا هغه ځوانان و چې د ټريننګ په لومړي پړاو کې مې ومونډل چې د کار خلک دي او زمونږ له پاره ډير څه کولای شي.**

**اوس دا د امريکا په ډالرو روږدي پاکستان دشمنه کسان راشي او مونږ ته د ترهګرو سره د تعلقاتو پيغور راکوي.**

**دوی سوچ هم نه شي کولای چې مونږ څه وکړل او څنګه مو وکړل؟ تاسو باور وکړئ له دغه ۶۹ ځوانانو د ۳۵ ځوانانو را بيلول او په دې کې زمونږ دکار خلک پيدا کول دا وړه خبره نه وه شپه او ورځ محنت و. دا په مونږ انتقاد کوونکي دې راشي د پاکستان له پاره دې دومره قرباني ورکړي زه بيا وګورم چې د دوی په زړه څه تيريږي.**

**دې ۳۵ ځوانانو ته بايد ما څو ټريننګونه ورکړای وی، يو خو په ملک کې د ګډوډۍ جوړولو مهارتونه و چې څنګه په يوه جوړه ټولنه کې د خپل اثر او رسوخ پيدا کولو له پاره او ديو ملحد نظام ړنګولو له پاره خلک په ځان راټول کړای شي او يو شورغوغا جوړه کړي.**

**دويم: چريکي جنګونه هغه څه و چې دې ۳۵ کسيزې ډلې بايد زده کړي وی، په دې ټرينښګ کې مو دې ډلې ته ځانګړي عصري د چريکې جګړې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مهارتونه ور زدکړه کړل، افغانان په چریکي جګړو کې ډېر تکړه دي ما د افغانانو تاریخونه ولوستل او پیدا مې کړه چې په دغه مهارت که افغان ځوانان وروزو زمونږ له پاره یوه اوږده جګړه پرمخ وړلای شي.**

**تاسو یقین وکړئ دغه ځوانان چې اکثره یې په مدرسو کې په زدکړو بوخت و په غرونو او رغونو کې داسې روزنې ترلاسه کولې چې د سترګتیا نوم یې نه اخیست او نه هم په شا کیدل همدا و چې زما دلچسپي هم ورسره زیاته وه او دهغوی پرمختګ ته به من من غټیدلم.**

**دریم: دې ډلې ته مو ور زده کړل چې په مشکل وختونو کې څنګه دوی د ځان له پاره اکمالات وکړي، ضرور نه ده ټول عمر دې پاکستان یا امریکا یا سعودی عربستان دوی له پاره پیسې ورکوي او دوی دې بیا جګړه مخ ته وړی. دوی باید داسې روزنه لیدلی وی چې په خپلو کمو امکاناتو باندې جګړه مخ ته یوسي یعنې یوه ارزانه جګړه وکولای شي نه دا چې په وړه جګړه هم ملا ماتوونکې مصارف او لګښتونه راشي.**

**په برخه کې د عشر او زکات د ټولولو له لارې، دحکومتي او اینجییوز د کار کوونکو د اغوا کولو له لارې او د خلکو ترمنځ د روغې جوړې کولو له لارې د پیسو او زمانتونو اخیستل بل هغه څه و چې دوی ترې خپل امکانات برابرولای شول.**

**دې ډلې یوه ورځ سخته پوښتنه کې راګیر کړم او ما فکر هم نه کولو چې کله به مې خپل شاګردان هم را بندوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان کې کوکنار او چرس ډېر دود دي نو د آپین او چرسو د قاچاق کوونکو او کاروباریانو سره شریک کار کول او یا هم د هغوی سره د مرستې کولو او د هغې لارې د پیسو پیدا کولو په اړه دوی سره غږیدو، چې پوښتنه یې وکړه دا خو حرام دي استاده نو مونږ څنګه له دې لارې پیسې راوړو؟

ما کوشش وکړ خو پوی شوم چې ناکام یم او دوی ته سم ځواب نه شم ورکولای.

مونږ سره په د آی ایس آی په یو بل ګروپ کې ځینې افسران ملګري وو چې د هغوی مجاهدینو سره په دیني او دهغوی د ذهن جوړولو برخه کې کار کولو.

داسې کسان چې ماښام کې به مونږ کله کله د مشرانو لخوا د شپې ملسمتیا برابریدله نو دوی به شراب هم څکل او سهار به بیا د کار په ځای کې داسې و چې سم پاخه ملایان به ښکاریدل، ما به ورته ویل چې دومره دوه مخې ژوند کول به تاسو ته تجربه کیږي چې څومره ګران دی خو هغوی خندل او ویل به یې چې بس اوس مونږ ملایان یو.

نو هلته مې د یو غټ افسر نه ددې پوښتنې د حواري له پاره پوښتنه وکړه هغه یو ساده مثال راکړ او دا بیا زما دې ډلې بیخي قبول کړ.

هغه ویل چې ورته وایه د خدای لاره کې جهاد له پاره هرڅه روا دي کله چې ته د خدای ج د دین ساتنه کوې نو هغه بیا ستا داسې وړو وړو غلطیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته نه ګوري.

دهغه د خولې يوه عربي جمله خدايزده چرته يې ياده کړې وه اوس هم راته ياده ده او دا مجاهدين پرې راضي شول. هغه جمله څه داسې وه. (الضروريات تبيح المحضورات) يعنې ضرورتونه بنديزونه رفع کوي.

ځينې نور ټرينګونه مو هم دوى ته ورکړل يعنې څنګه د يو اسلامي نظام رامنځ ته کولو له پاره دوى کار وکړي او يو ماډل نظام جوړ کړي چې هغه په ټوله معنى ښه وي.

په دې برخه کې ځينو بهرنيو مشاورينو هم مونږ سره برخه واخيسته هرڅو زه يې مخالف وم خو د مشرانو له خوا امر و نو نه مې شو کولاى چې مخالفت يې وکړم.

مونږ چې په کوم ماډل حکومتي نظام باندې دوى سره کار وکړ دومره يې خوښ شو چې هره شيبه يې انتظار کولو چې کله به مجاهدين بريالي کيږي او دوى به افغانستان کې داسې يو نظام جوړوي.

دا دومره يوه خطرناکه او فعاله ډله شوه چې کله کله به زه وډار شوم چې هسې نه ده دوى په ملک کې څه اړى ګړى رامنځ ته کړي او د دوى صلاحيتونه هسې نه چې په منفي لارو کې استعمال شي.

نو له همدې ويرې مو ددې ډلې له پاره يو کلک او تکړه محب وطن ديني عالم د دوى په سر کې مشر کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا عمر، ملا رباني، ملا برجان او ... دهمدې مثالي ۳۵ کسيزې ډلې غړي وو چې مونږ پرې زحمتونه وويستل.

دغې ډلې هر ډول وسله هم کارولای شوه او ډيره تکتيکي جګړه يې پر مخ وړلای او رهبري کولای شوه، په امتحاني ډول مو څو جګړو ته را وليږل چې ډير بريالي راغلل.

په همدغه ازميښتي دوره کې له دې ډلې څو کسان ان شول ملا عمر په همدې ازميښتي دورو کې يوه سترګه له لاسه ورکړه.

د ملا عمر د سترګې په اړه به درته سهي او ريښتيني کيسه وکړم په دې اړه ځينې افسانې هم مشهورې دي.

داسې ويلی کيږي چې کله په جګړه کې دده يوه سترګه زخمي شوه نو دا دومره بهادر او شجاع انسان و چې په چاقو سره يې د سترګې زخمي شوی ګاټې را وويست او ګوزار يې کړ او بيا يې په جنګ شروع وکړله.

د هغه د يو مافوق البشر انسان ثابتولو له پاره دا يوه دروغ کيسه مشهوره شوې ده، اصل خبره دا ده چې په ځانګړې توګه دهغه د سترګې علاج د کراچۍ په يو هسپتال کې د پوځ په ننګرانۍ کې وشو. او هغه سره د شوي چلند او همکارۍ له کبله هغه ډير خوشاله او تل به يې زمونږ د ملګرو دا مرسته يادوله.

خبره مې د ۳۵ کسيزه ډلې د اتلوليو کوله ددغې ډلې څو تکړه کسان ان شول خو پاتې يې د ملا عمر مجاهد په څنګ کې راټول وو او هغه ته يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلا مشورې او د امارت د چلولو برخه کې لويه قرباني ورکړې ده.

د هم هغې ۳۵ کسيزې ډلې د پاتې شويو مجاهدينو له لاسه نن امريکا هم د سر په کاسه کې اوبه څښي او هغوی د کويټې او د طالبانو په نظامي شورا کې سره راټول دي.

په دغه ۳۵ کسيزه ډله کې چې کوم کسان و د حزب اسلامي، جمعيت اسلامي او حرکت اسلامي د تنظيمونو کمانډران او مجاهدين شامل وو، په لومړيو کې چې ملا عمر مجاهد د کوم قوماندان سره و هغه د جمعيت اسلامي قوماندان و خو د حرکت اسلامي ګوند له ځينو قوماندانو سره يې هم خاص مراسم او تګ راتګ و.

زما ترخارنې او مستقيمې لارښوونې لاندې دغه ډله په خاصو هنرونو سمبال کړای شوه او د روزنيز کيمپ وروسته يو ځل بيرته زه خپلو پخوانيو کارونو ته وګرځيدلم او نور پوی نه شوم چې ددغې ډلې روزنه د څه له پاره وه او څه مو پرې کول خو دومره ورته خوښ وم چې نورو مجاهدينو سره په ډيره ميرانه او او اوږه په اوږه جنګيدله او ښه ښه خبرونه به يې له منځ نه راتلل.

روسيان له افغانستانه هم ووتل، د نجيب حکومت هم ړنګ شو او کابل افغان مجاهدينو هم ونيولو، بيا د ګلبدين حکمتيار او استاد رباني د تنظيمونو ترمنځ سخت جنګونه هم وشول او همداسې په کابل او ځينو ولايتونو کې د قومي، ژبني او تنظيمي جګړو لړۍ پسې وغځيده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیسه تر ۱۹۹۴ میلادي کال پورې را ورسیده.

په دې مهال کې امریکا سترګې بدلې کړې نورې دنیا هم مونږ او هم افغانان یواځې پریښودل او همدا و چې افغانستان ته د روس له وتلو د سولې پر ځای د جنګ داسې اور داخل شو چې دا دی تر ننه هم مونږ د هم هغې اور په مړه کولو لګیا و

که امریکا او ملګرو ملتونو افغانستان ته نه وه شا کړې او هلته یو اسلامي حکومت جوړ کړای شوی و نو دا دومره ترخه حالات به نه راتلل خو امریکا ډاریدله چې افغان مجاهدینو کله یو سوپر ځواک لرونکی هیواد مات کړ نو که یو قوي حکومت جوړ کړي نو د امریکا د ماتولو توان هم پیدا کولای شي نو ځکه یې افغان جهادي تنظیمونه خپلو کې سره په جنګ پرېښودل او خپله ورته د خیر په غونډۍ کېناستل حتی د دوی ترمنځ د روغې جوړې یوه وړه هڅه یې هم ونه کړله، اوس را پاڅېدلي دي او وایي مونږ افغانستان ته امن راوړو، امریکایان ډیر بې وفا خلک دي دوی چې څنګه پاکستان یواځې پریښود او نن په مونږ باندې د دوی د بهرنیو چارو وزیره هیلري کلنټن تورونه پورې کوي، جوړ دوی نه هیر شو چې همدا خلک و چې د پاکستان پوځ یې هڅولو چې افغان جهاد کې برخه واخلي اوس چې کله یې خپل مقصد پوره شو نو په افغانستان کې یو ځل بیا انډیا ته لاره هواره کوي او پاکستان ته په افغانستان کې دښمنیانې جوړوي.

امریکا باید له یاده ونه باسي چې د پاکستان شکر الحمدالله یو اسلامي او آټومي قوت دی او مونږ څه عراق او افغانستان نه یو چې دوی به مو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هیواد یرغل کوي او مونږ به خړ خړ ورته ګورو.**

**د پاکستان پوځ چې د خپل وطن دفاع له پاره د روسیې غونډې یو سوپر پوځ ته ماتې ورکولای شي نو امریکا به هم ډیر ژر داسې څه ووینې چې یاد به یې ساتي.**

**د پاکستان پوځ داسې میړني ځوانان او سرتیري لري چې ډیر ژر به افغانستان دوی ته په یو جهنم بدل کړي او ورته به ورښکاره کړي چې د پاکستان په خلاف سازش څه تاوانونه لري.**

**مونږ په دې شرارتونو لا هم هغه ۱۹۹۳م کلونو کې پوهیدلي و خو له بده مرغه زمونږ ځینې بزدله جنرالان خرڅ شول او مونږ یې له ستونزو سره مخ کړو. مونږ ددې له پاره قربانۍ نه وې ورکړې چې امریکا دې خپلې ګټې خوندي کړي او بله ورځ دې برته په پاکستان مخ را واړوي.**

**امریکا لا هم هغه وخت نه غوښتل د روسیې پر وړاندې ځان د خبرې سر کړي خو دا پاکستان و چې هرڅه یې پر ځان ومنل او یو سخت دشمن سره مخ شو. نو د امریکا ارادې په وروستیو کې خرابې وې هغه کارونه چې مونږ د افغان جهاد کې له ګډونه باید د پاکستان له پاره کړی وی نه وو شوي، د شوروي په خلاف جګړه کې باید مونږ ته زمونږ حق راکړی شوی وی خو مونږ چې لیدل په کابل کې د مجاهدینو له حکومت جوړېدو وروسته هرڅه زمونږ له لاسه ووځي.**

**یو ځل بیا انډیا په ډیره سپین سترګۍ په افغانستان کې زمونږ خلاف**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارونه پیل کړل. یو لوري یې غوښتل چې مونږ ته په هلمند، نیمرزو، کندهار، خوست، ننګرهار او کونړ کې سازشونه جوړ کړي او بل لور خوا یې په همدې شوموموخو زمونږ د لویو پراجیکونو مخه نیوله.

د په میډیا ناست د اوتو کړو جامو خلک دې ماته جواب راکړي چې په دې وخت کې به دوی څه کولای؟

دوی را پاڅیږي مونږ ته اوس وايي چې تاسو ترهګرو ملاتړ کولو، مونږ ترهګر نه ملاتړ کول بلکې مونږ د پاکستان سهي ملګري ملاتړ کول. هرڅوک چې د پاکستان ملګري وي او خپل ورور یې بولي مونږ هغه حمایه کوو.

مونږ اوس هم خپل دغه ملګري مجاهدین ګڼو ترهګر خو امریکا او انډیا ده چې انسانانو ژوند یې ورتریخ کړی دی تاسو وګورئ!

په عراق کې امریکایي عسکرو څنګه د انسانانو تذلیل وکړو په افغانستان کې یې څنګه د خلکو تذلیل وکړو. په عراق کې انسانان په سپیو وخوړل او په افغانستان کې یې ښځې بې ستره کړې.

افغانان خپل سر ورکوي خو د خپلو میرمنو بې عزتي نه شي برداشت کولای تاسو به وګورئ چې ډیر ژر افغان مجاهدین د مغرورې امریکا پښې ماتې کړي او یو ځل بیا په افغانستان کې اسلامي نظام قایم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کندهار، ۱۹۹۴کال او زه

هغه مهال چې د افغانستان په هر ولایت او سیمه کې خانه جنګي پیل شوې وه او د مجاهدینو حکومت په څو ډلو تقسیم شوای و نو ماته د خپلو مشرانو له خوا یوه نوې دنده را وسپارل شوه.

عجب صورت حال و، یا خو د مشرانو ډېر باور و او یا بله کومه مسله خو زه یې په کور دمې ته نه یم پرېښې، یو ځل مې د مشرانو په یوه غونډه کې وویل چې مشرانو پرې ډېر وخندل، هغه داسې و چې دوی ماته یو ځل بیا افغانستان ته د ننوتلو امر وکړ او د مهمې دندې د تر پای ته رسولو سپارښتنه یې راته وکړه.

ما ورته ویل: تاسو لکه چې نه غواړئ زه د پاکستان په خاوره ژوند وکړم؟

نو خپل یو مشر راته کړل، چې سلطان په حقیقت کې مونږ له تا ډاریږو نو ځکه دې د ځان په شاوخوا کې نه شو پرېښودلای او په دې سره د ناستو تولو ملګرو په منځ کې د خندا یو خوشګوار ماحول جوړشو.

له بدقسمتۍ نه خو زمونږ ولسي حکومت تل د پوځ سره همکاري نه کوي او په ډېر حساس وخت کې د پوځ خلاف ودریږي. د پوځ او بهټو کورنۍ ترمنځ سخته اوږده لانجه تیره شوه خو بیا د خدای په فضل او کرم سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پاکستان له یو سخت مشکل څخه تیر شو، بینظیر بهټو د پاکستان حکومت مشري په غاړه لرله او یو ځل بیا نصیر الله بابر دهغه د یو مهم ملګري په توګه د حکومت سره په هلو ځلو بوخت و، هغه ډیره علاقه درلوده چې په افغانستان کې یو پراخه سوداګریزه لاره پیدا کړي او ددې سرک له لارې پاکستان وکولای شي چې د منځنۍ اسیا او د ډیرو مهمو هیوادونو سره سوداګریز تعلقات جوړ کړي.**

**آي ایس آي هم په کندهار، هلمند، خوست، ننګرهار او کونړ کې ځینې مهم پراجیکونه درلودل او وخت ناوخت په ځانګړې توګه جنوبي ولایتونو سره مې اړیکې وې.**

**په هغې کې یو په هلمند کې د بلوڅو او د هندوستان د استخباراتو په اړه زمونږ تشویشونه و او تل مو په دې سیمه خپل څار او کار روان ساتلو. د جنرال نصیر الله بابر دې خواهش ته د عمل جامه اغوستلو له پاره مونږ یو ټیم چمتو کړه چې دوی ددغه سرک جوړولو له پاره سروې، امکانات او لارې چارې پیدا کړي. چې ماسره په دې سفر کې د پاکستان د نیشل هایېوې مشر میجرجنرل هدایت الله نیازی، بریګډیر اسلم بودله، د ځینو کمپنو استازي او ځیني نور چارواکي هم وو.**

**په کابل کې د حکومتي مشرانو او تنظیمونو ترمنځ شخړې او نانډریو زمونږ د ډیرو کارونو مخه نیولې وه نو ځکه مو مناسبه وګڼله چې کندهار ته لاړ شو او له دې سیمې خپل کارونه مخ ته یوسو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کندهار کې موجودیت ما له پاره یوه ستره تجربه وه ددې ترڅنګ چې زه هلته خپل راسپارل شوي کارونه مخ ته یوسم لازمه مې بلله چې په هغې سیمه کې ځان ته د نوک لګولو ځای پیدا کړم نو ددې له پاره مې د هغې سیمې چې زه په کې میشت وم دد یني عالمانو او د کورنیو سره پیژندګلو جوړه کړه او د هغوی کوچنیانو ته به مې سبقونه ویل دا لړۍ دومره پراخه شوه چې ما ډیر زیات باور او پیژندګلو پیدا کړه.

تر دې چې زه ډیرو کندهاریو پیژندلم او په امام صیب به یې بللم. دوی زما خاص احترام کولو ما به خپل کارونه هم مخ ته وړل او ددې خلکو سره به مې همکاري هم کوله. جمع او پانجشنبه به ځینې خاص میټینګونه مونږ درلودل او دهغې له پاره به مو خاص ځای انتخابولو.

زمونږ ډیر ډار له دې کیدلو چې خلک زمونږ په راز پوی نه شي او مونږ ته مخ کې خنډونه جوړ نه کړي نو ځکه به عموما زمونږ جلسې په لرو پرتو جماتونو کې وې.

په لومړي سر کې چې څه ډول مونږ غوښتل هغسې زمونږ کارونه نه ترسره کیدل اساسي مشکل دا و چې د طالبانو د غورځنګ له پاره د طالبانو د مشرانو له خوا یوه کړنلاره او ستراتیژي باید منظور شوی وی.

یو خوا مولوي عبدالصمد و چې د طالبانو یوه پراخه ډله او ملګري یې درلودل، زیات شمیر طالبان یې شاګردان وو او یوه اندازه مال دولت یې هم درلود. بل خوا ملا محمد عمر مجاهد و چې له قد او قوارې خوارځواکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ډېر شجاع او تکړه قوماندان و. د ملا محمد عمر مجاهد سره په څنګ کې دهغه یو بل ډېر نږدې ملګرى جګ ملا محمد په نوم مشهور و، تل به د ملا عمر څنګ کې کیناسته په ریښتیا هم لوړ و، ماته یې اوس هم څیره مخ مخ ته کیږي.

مونږ زیاتې غونډې د میوند ولسوالۍ د حوض مدد سپین جمات،د سنګیسار د حاجي غوث الدین په جامع جماتونو کې کولې، زه او زما ملګرو د زیات وخت له پاره د کندهار او هلمند په ځینو نږدې ولسوالیو کې کار کړى و او د طالبانو ترمنځ د همغږې له پاره مو لارې چارې جوړولې.

ددې له پاره چې یوه اصلاحي کمیټه جوړه کړو او مونږ وکولاى شو طالبانو سره د یو قوت په جوړېدو کې مرسته وکړو، د حاجي غوث الدین په جمات کې مو د پنجشنبې په ورځ او شپه یوې ناستې ته زمینه برابره کړه، په دغه ناسته کې د ملا محمد عمر مجاهد ترڅنګ ملا عبدالصمد، حاجي بشیر مولوي سید محمد چې د طالبانو ترمنځ په مولوي پاسني مشهور وو همدا ډول مولوي عبدالحکیم هم موجود وو.

دا د۱۹۹۴ زیږدیز کال د جون ۱۳مه نیټه وه او زمونږ د ناستې او مشورې ایجنډا د طالبانو اصلاحي کمېټې ته د یو مشر ټاکل وو.

خو په دغه سیمه کې زیات نفوذ د مولوي پاسني و او له وضعیت داسې معلومیدل هغه کسان چې دلته راټول شوي هغه به د ملا محمد عمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجاهد پر ځای مولوي پاسني ته د مشرۍ لقب ورکړي، د ملا جګ په مرسته مې ترملا محمد عمر پیغام ور ولیږه چې د کمیټې د مشر ټاکلو چاره دې بلې ناستې ته وځنډول شي، زمونږ کوښښ دا و چې ددې کمېټې مشري ملا محمد عمر مجاهد ته ورکړل شي چې په وروستۍ کې دغه ناسته بې نتیجې پای ته ورسیدله او مونږ ملا عمر ته د طالبانو په مرکزونو او مدرسو د ګرځیدو مشوره ورکړه. نو د څو ورځو له پاره ملا عمر او ملا عبدالصمد د طالبانو په مدرسو او مسجدونو وګرځیدل او د دیني عالمانو د یوې کمېټې جوړېدو په اړه یې دهغوی د ملاتړ را خپلولو کوششونه وکړل.

هغه مشران وایي کنه ترڅو چې یوه پیښه ونه شي غبرګون نه رامنځ ته کیږي؛ زمونږ غبرګون په کار و او د طالبانو ترمنځ د اصلاحي کمېټې جوړښت لا پسې اوږدیدلو، خو ځینې وخت په شر کې هم خیر وي.

د کندهار په میوند ولسوالۍ کې زما یو پخوانی دوست و او زمونږ د خپلو همکارانو ترمنځ د مشورې دیره هم هلته وه وخت ناوخته به مو سره لیدل، زما دوست پخوانی جهادي قوماندان و او د مولوي صیب خالص په حزب کې یې جهاد کې برخه درلوده.

یو وخت هغه په کویټه کې یو مشکل کې ګیر و او ما ورسره مرسته وکړه هم هغه و چې تل یې د امر خدمت سینه راته ډبوله.

یوه ورځ مې زړه وغوښتل چې شپه مې دغه ملګري ته ورسوم؛ هغه د میوند ولسوالۍ د مرکز واک په لاس کې درلود. له حوض مدد سپین جمات

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ملا صيب خپل ځو ملګري راسره کړل.

په دوی کې دهغه يو ډير اعتباري ملګرى ملا عبدالستارو، دوه نور طالبان و او يو هم يو ځوانکى هلک و. په کندهار کې دا ډيره ساده او عامه خبره ده هلته مالداره او زورواکي اشخاص ځان سره هلکان ګرځوي، په هغوی ډير پام کوي او زړه بدوالي ته يې نه پريږدي.

په کندهار کې خلک د هلکانو په ساتلو وياړ او افتخار کوي او دا د ځان له پاره هيڅ شرم نه ګڼي، خو ما له پاره دا ځکه د حيرانتيا وړ و چې دلته مې لومړى ځل وکتلو. هغې د ملا عمر د جمات د نورو طالبانو برعکس زيات وينښته درلودل، کندهارۍ خولې يې په سر وه او يو ډول ابي رنګ سترګې يې وې، جګ ملا ويل چې د ملا عمر اخوند له خاصو شاګردانو دى او هغه پرې ډير خفه کيږي. ما جګ ملا ته ورغبرګه کړه چې د ملا صيب خاص شاګرد خو ډير خاص دى.

هغه ويل: ولى ملا اخوند زړه نه لري که څنګه؟ او په دې سره ټولو ملګرو وخندل.

کله چې دميوند ولسوالۍ مرکز ته ورسيدلو خبر شو چې په يو پاټک زما د ملګري د وسله والو او د استاد سياف د ګوند د يوه قوماندان استاد عبدالعليم پر دوی بريد وکړ، زما ملګرى چې په کندهار او هلمند کې د ميشت لوى نورزي قوم څخه وو ډير په قهر شو او د ملا عبدالستار او نورو ملګرو ته يې هلته د مرستې له پاره د ورتګ سپارښتنه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه برید کې د استاد سیاف قوماندان د حاجي نورزي ۱۷ کسان ووژل. په دغو وژل شویو کسانو کې د ملا عبدالستار او د ملا عمر مجاهد خاص او هغه ښایسته شاګرد هم وژل شوي وو، چې همدې پیښې د طالبانو د اصلاحي کمېټې او ملګرو قهر او غوسه را وپاروله.

ملا عمر مجاهد د خپلو ملګرو په مرګ ډېر زیات غمژن و ماته یاد شي چې د خپل څادر په پیڅ که به یې اوښکې پاکولې د ملا عبدالستار او خپل شاګرد جنازو ته ودریده او ښه ډېر یې وژړل.

بیا یې حاجي نورزي ته کړل چې ددوی غچ به اخلې همداسې به یې نه پرېږدې.

په پښتنو کې غچ او انتقام یو عجیبه دود دی دوی هرڅه کوي خو انتقام چاته نه پرېږدي، پښتانه وایي یو چا سل کاله وروسته انتقام اخیستی و بیا هم خلکو ورته ویل چې عجله دې وکړه خو ملا عمر او ملګري یې دومره قهر شوي و چې سل کاله څه چې لس ورځو ته یې هم صبر نه کولو.

ما له خپله دوسته وغوښتل چې د ملا عمر اخوند ملاتړ وکړي او هغه ته امکانات ورکړي. حاجي نورزي ملا عمر او ملا عبدالصمد ته وویل چې زما ټول امکانات او وسله وال ستاسو په امر کې دي همدا ډول څو موټر یې هم هغوی ته وښودل چې استفاده ترې کولای شي.

دا لومړی هغه پیښه وه چې ملا عمر مجاهد قومانده په لاس کې واخیسته او په خپله د یو حرکت مشر شو. یوه ورځ مې له جګ ملا پوښتنه وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چې اخوند صیب خنګه دی؟ هغه ویل ډیر قهر دی هره ورځ د خپل شاګرد قبر ته یو ځل د دعا له پاره ورځي او وایي چې غچ به یې اخلي.**

**دا چې د میوند ولسوالۍ واک د طالبانو لاس ته ولوید نو په هغه سیمه کې چې ملا محمد عمر مجاهد په  په دغه سیمه کې د دیني علومو د زدکړو له پاره یوه وړه دیني مدرسه هم جوړه کړې وه؛ دا د حوض مدد نوم مشهوره وه چې طالبانو په کې د راتلونکو فعالیتونو له پاره یو مرکز جوړ کړ.**

**د ملګرو او همکارانو پلان دا و چې له دې ځای طالبان کولای شي د هلمند او کندهار ترمنځ په لاره پراته پاټکونه ټول کړي.**

**دې پاټکونو مونږ ته هم سرخوږی جوړ کړی و په ځانګړې توګه د جمعیت اسلامي او حزب اسلامي اړوند قوماندانانو مونږ ته مشکلات جوړول. هغه کسان چې زه یې پیژندلم راباندې یې نیوکې کولې چې زه د طالبانو ترشا یم نو له دې کبله په هلمند ولایت کې زما کارونه یو څه ستونزمن شوي و، نو ځکه اړینه وه طالبان هرڅه منظم او په بیړه تر سره کړي مونږ ډیر وخت نه درلود چې له هلمند، نیمروز او د کندهار د ځینو سیمې لرې او ناخبره پاتې شو. اخوا د منځنۍ اسیا هیوادونو ته د سرک له پاره چارې هم باید په بیړه ترسره شوی وای، خو طالبانو زمونږ کار اسانه کړ او دا فعالیتونه ددې سبب شول چې مونږ ته څه هیلې پیدا شي.**

**طالبان زمونږ ریښتیني دوستان دي دوي پاکستان سره مینه لري او پاکستان د اسلام قلعه بولي دوی په دې خاوره ژوند کړی او دومره نمک**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حرامه نه دي چې د پاکستان دخلکو او حکومت ښيګڼې يې هيرې کړى وى خو بيا هم يو بد دماغه جنرال زمونږ د کلونو خواري په اوبو لاهو کړه او امريکايانو ته يې زمونږ هغه ملګري وسپارل چې د پوځ هومره يې د پاکستان د دفاع له پاره کار کولاى شول.**

**کله چې زمونږ د هندوستان سره په کشمير اړيکې کړکيچنې شوې د طالبانو مشرانو ماته وويل چې امام صيب امر وکړه څومره مجاهدين درسره وليږو؟**

**د طالبانو مشرانو ويل مونږ هر وخت د پاکستان له پاره قربانۍ ته تيار يو.**

**دوى به ويل چې زمونږ نيکونو هندوانو ته شکستونه ورکړي دي او بيا به هم مونږ دوى ته د بت شکن محمود غزنوي تاريخ راژوندى کوو او له دوى څخه به د اسلام دفاع کوو.**

**خو د پاکستان حکمرانانو د پاکستان همدا خواخوږي لاس تړلي او په ډيره بې شرمۍ امريکا ته وسپارل چې دا يې د پاکستان سره لوى خيانت وکړ.**

**خبره مې د حوض مدد په سيمه کې د طالبانو د تياريانو کوله لومړى نقشه چې مونږ د جګړې له پاره جوړه کړه هغه د ميوند ولسوالۍ اړوند په کولک سيمه کې د حزب اسلامي د يو قوماندان په پاټک بريد و.**

**دا د داروخان پاټک و چې د هلمند او کندهار په لويه لاره پروت و دلته به له خلکو پيسې اخيستل کيږې، د ښځو به بې عزتي کيدله او ډير ځل داسې شوي دي چې دلته به هلکانو سره بد فعلي کېدله.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خلکو د توجو جلب له پاره دا نهایت مهمه وه چې دلته طالب مجاهدین بری تر لاسه کړي له دې ځای مونږ د هلمند او کندهار ترمنځ د ښار او کار ډیرې اسانتیاوې تر لاسه کولای شوې.

همدا و چې د ۱۹۹۴ زیږدیز کال د سپتمبر په ۲۷مه نیټه د حاجي نورزي د وسله والو او طالبانو په ګډ برید کې له یوې سختې جګړې وروسته د داروخان پاټک تر لاسه کړ. دا لومړی د طالبانو وسله وال فعالیت و چې د ملا محمد عمر مجاهد په مشرۍ کې ترسره شو په دې سره د دې سیمې خلک ډیر خوشاله شول.

ته یقین وکړه چې د سیمې خلکو د طالبانو له پاره خوشالیانې وکړې چې له دې ظالمانو یې خلک خلاص کړل، ما چې د خلکو خوشالي او له طالبانو ملاتړ وکتلو نو خپلو ملګرو او همکارانو سره مې مشوره وکړه او پریکړه مو وکړه چې ملا محمد عمر مجاهد ته د مبارکۍ تر څنګ د مرستو د جلب چاره هم ګړندۍ کړو.

ما ملا عمر او ملا عبدالصمد او ملا پاسنی ته بیل بیل مخابرې وکړې او مبارکۍ مې ورکړې ملا پاسنی لږ حیرانه شو خو ملا عمر مننه وکړه او رانه یې وپوښتل څنګه و ملا صایبانو فتح تر لاسه کړه کنه.

ما ورته ویل تاسو د خدای له لورې دې خلکو ته رالیږل شوې فرښتې یاست، خدای ج له تاسو سره دی او تاسو به انشاالله فتح راوړئ.

ماته د ملا محمد عمر مجاهد دې خبرې سخت خوند راکولو چې ماته به

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې له هرې خبرې وروسته ویل؛ اوس مو توکل محض کړی دی. ما چې د جهاد او دین په اړه تر یوه بریده زدکړه درلوده او د قران پاک او حدیثو ترجمه مې هم زده وه په توکل محض ډیر نه پوهیدم خو بیا چې یو ځل په روخصت پاکستان ته راغلم نو د خپل کمپ له یو دیني عالم نه مې وپوښتل.

کله چې په داروخان پاټک برید کیدلو ملا عمر او ملا عبدالصمد اخوند ډیر وګرځیدل مونږ په ځینو مدرسو کې طالبان ځای پر ځای کړي و له ځو ورځو کار وروسته ایله ملا عمر مجاهد و توانید چې څه ۵۰ نفر طالبان د جګړې له پاره راټول کړي. ملا عمر مجاهد دا هم د توکل محض کسان بلل، او چې د حاجي بشیر نورزي په لاس مې ورته دوه موټر ور ولیږل نو په مخابره کې راته ملاصیب په ډیره خوشالۍ وویل، امام صیب لکه څنګه چې تاسو ویل ریښتیا هم خدای ج له مونږ سره غیبي مرسته شروع کړې او که همداسې وي نو باور لرم چې ابابیل به زمونږ مرستې ته راولیږي.

د داروخان پاټک له نیول کیدلو وروسته واړه واړه قوماندان له طالبانو ډار شو او خپله یې سیمې پرېښودې، دخلکو ملاتړ هم ورځ تر بلې د طالبانو سره کیدلو چې په کوم جمات کې به دیره شول نو خلکو به ورته ډک ډک شکري ډوډۍ راوړلې او دهغوی سره به یې خوشالیانې کولې.

تر دا مهاله د جګړې مشر په خپله ملا محمد عمر مجاهد و او د نور تنظیم له او مشورې واک یې ملا عبدالصمد ته ورکړی و؛ خو کارونه لا هم باید ډیر ښه شوی وی نو د ملا صیب توکل محض ډیر موثر و نو ټوله مشري

(c) ketabton.com: The Digital Library



بايد دهغه لاس کې شوی وی خو د سيمې د طالبانو او د ملايانو د ملا عمر په نسبت ملا عبدالصمد ته ليوالتيا زياته وه هم هغه و چې زمونږ يو پخواني ملګري ته مې د سرور په نوم يو هلک وليږلو. ملا نورالدين ترابي تر دا مهاله د طالبانو د ډلې سره په وسله واله مبارزه کې برخه نه واخيستې خو هغه سره په جمات کې له شلو زيات طالبانو وو، چې ټول ډير تکړه او زړور هلکان و همدا ډول ملا نورالدين ترابي له ځان سره ځينې نور طالبان هم ملګري کړل او د حوض مدد سپين جمات په غونډه کې يې ګډون وکړ.

ملا نورالدين ترابي چې يو با رغبه شخصيت و او ښه تقرير يې کولو په خپلو خبرو کې پر ملا محمد عمر مجاهدين د مشرۍ لاس کيښود او په دې سره ټول جمات دعا امين وکړه او په دې سره د طالبانو د اصلاحي کميټې د مشرۍ پر سر مونږ ته جوړ شوی جنجال حل شو او ملا محمد عمر مجاهد چې مونږ له پاره يې مشري ډيره مهمه وه ددې ډلې مشر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سپين بولدک فتح او طالبانو شهرت

کله کله چې زه هغه وختونه يادوم نو حيران شم چې مونږ څومره تکليفونه په ځان تير کړل، مونږ څومره سختې ومنلې خو نن يو شمېر کسان راپورته شي او مونږ ته سپکې سپورې وايي، که زمونږ ملګرو د پاکستان پرځای کوم بل هيواد ته دومره خدمت کړی و نن به يې مجسمې په واټونو کې جوړې وې او خلکو به يې احترام له پاره ګلونه راوړل.

د کندهار ولايت د سپين بولدک د جګړې کيسه به درته وکړم، وروسته له هغې چې طالبان په ميوند ولسوالۍ کې ځای پر ځای شول نو حساسيتونه زمونږ پر وړاندې زيات شول، ماته ځينو جهادي قوماندانو په مخابرو کې وويل چې ستاسو ملګري د طالبانو سره يوځای شوي او زمونږ پر وړاندې جبهې جوړوي، ما هغوی ته دلاسه ورکوله چې مونږ هيڅ قسم مداخله نه کوو او کوم پاکستاني طالبان چې دوی سره دي مونږ به کوښښ وکړو چې هغه ددوی له ليکو په شا کړو، خو ډېرو هغوی ته يې د قناعت وړ نه و.

مونږ بايد يوه لنډه او خوندي لاره کويټې ته درلودلای چې د اکمالاتو ترڅنګ مو په هره سخته کې د سرحد خپلې غاړې ته کمپونو ته رسيدګي کولای شوای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې له پاره د سپين بولدک ولسوالي ترلاسه کول ډېر ضروري و ځکه چې زمونږ يو شمېر هغه افسران چې د طالبانو سره په ميوند ولسوالۍ کې و هغوی يو ډول محاصره و او هيڅ قسم ازاده لاره مو نه درلوده، د طالب مشرانو بيړه د کندهار ولايت واک کې راوستلو ته وه خو زمونږ مشوره بيا دا وه چې پرته له پوره اکمالاتو او زياتو وسله والو، همدا ډول پرته له يوې پاکې لارې نه بايد مونږ يوې سختې جګړې ته ودانګو. که هغه مهال مونږ د کندهار ولايت ته دننه شوای وای نو مونږ په يو مهال د څو حزبونو سره په جګړه کې کيدلو اوس مهال د طالبانو د وسله والو او د حزب اسلامي د قوماندانو ترمنځ کړچ يوه د وړو پوزه مونږ ته ايښې وه او خلکو فکر کولو چې ګوندې دا دحرکت اسلامي او حزب اسلامي د قوماندانانو ترمنځ جګړه ده نو ځکه يې زمونږ ملګرو ته چې د طالبانو ليکو کې وو مشکل نه جوړولو.

وروستۍ پريکړه همدا شوه چې مونږ به بريد په سپين بولدک کوو، لومړی به د ولسوالۍ مرکز ته يوه ډله وسله وال مجاهدين دننه کوو او بيابه حمايوي ډلې را پورته کوو. زما په جګ ملا محمد ډېر باور و، هغه چې ما د روزنې کمپونو کې د يو زړور او نه ډارېدونکي سرتيري په توګه تجربه کړی و. دا جګ ملا محمد چې کوم و دده په اړه به تاسو ډېر څه نه وي اوريدلي خو دا ډېر تکړه مجاهد و زه چې د کومو ۳۵ مثالي ځوانانو يادونه کوم جګ ملا محمد له هغې ډلې يو و، چې مونږ سره ډېر وفادار تر اخره پاتې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکې له دې چې سپین بولدک باندې برید وکړو ما په کویټه کې له خپلو ملګرو مرسته وغوښته او ددې ولسوالۍ دننه ملاتړي کسان مو باید طالبانو ته پیدا کړی وی.

ما ته یو لیست راکړل شو چې په هغې کې د ډیرو نومونو ترڅنګ په دوه نفرو زما سترګې ونښتې. په دواړو مې شک راغی چې دا کسان ما چرته ګوندې کتلي، د اشخاصو اړوند اسناد او مدارک مې اړول چې ومې موندله یو یې ملا رباني و او دویم یې ملا داد الله؛ ملا رباني او ملا داد الله د هم هغه ۳۵ مثالي ځوانانو د لښکر پیاوړي مجاهدین و، چې زړه مې غواړي تاریخ یې د سرو زرو په اوبو ولیکم.

ما سره د روزنې پرمهال هغوی ځوانان وو اوس یې عمرونه پاخه شوي وو، ما له خدایه ډیر شکر وکړ چې زما ورک بچي یې بیرته زما مخ ته ودرول.

داسې مې ګڼله لکه هرڅه چې خدای ج زمونږ په خوښه کوي یو یو ورک ملګری را پیدا کیده او د طالبانو ډله قوي کیدله.

د 1994زیږدیز کال د اکتوبر په ۹ نیټه مو په میوند ولسوالۍ کې دوه لارۍ موټرې له مجاهدینو ډکې کړې چې د مجاهدینو شمیر کابو 47 وسله والو ته رسیدلو.

په دوی کې ۲۰ تنه زمونږ ډیر تکړه کماندو ځوانان و چې پګړۍ یې په سر کړې وې او د طالبانو سره اوږه په اوږه د سپین بولدک په لور روان شول.

د جګړې له پاره د جوړې شوې نقشې له مخې مو ملا دادالله چې ډیر تکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکټ ویشتونکی و مخکې له مخکې د خپلو ملګرو سره سپین بولدک ته لیږلای و. دا دوه موټره مجاهدین مو د جګ ملا محمد او د ملا محمد په نوم د یو بل قوماندان په مشرۍ روان کړل.

دا دویم ملا محمد بیا د طالبانو په اسلامي امارت کې د پوځي زدکړو او مهارتونو له کبله تر ډیره د جنوب په برخه کې نظامي قوماندان پاتې شو، ملا محمد دجګړې نظامي تکتیکونه ډیر ښه زده کړي و او د استخباراتي معلوماتو په شننه او تفکیک کې یې پوره مهارت درلود، بله ځانګړنه یې دا وه چې د جګړې د نقشې په عملي کېدو کې ډیر ځیرک و، دهغه له کارنامو به چې زه خبریدم نو حیران به شوم، چې ځینې هغه ځایونه چې زه به په کې بند راتلم خو ده به یوه ډیره ساده د حل لاره ورته پیدا کړه. د طالبانو اسلامي امارت هغه مهال ډیره سخته ضربه وخوړله کله چې زمونږ دا د کلونو دوست او اشنا   شو. په بیړني حالت کې بل داسې ځوک نه و چې ټوله جګړه کنټرول کړلای شي نو طالبان ډیر په شاه راغلل.

په سپین بولدک ولسوالۍ کې دا مهال د حزب اسلامي وسله وال په واک کې وو. د حزب اسلامی د قوماندان نوم اختر جان و خو هغه د جګړې له پاره هیڅ قسم چمتوالی نه درلود. د اکتوبر لسمه نیټه وه چې د طالبانو د اسلامي امارت مجاهدین د بولدک ولسوالۍ په مرکز کې له بندو موټرو را خکته شول او هوایي فیرونه یې وکړل، ترڅو چې د اختر جان وسله والو جګړې ته ځان چمتو کولو نو طالبان توانیدلي وو چې مهمې برخې په خپل لاس کې ونیسي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی خو اختر جان جګړه ونه کړه خو کله چې يې اراده وکړه نو د ملا داد الله لخوا له سختو ګوزارونو سره مخ شو. د اسلامي امارت مجاهدينو په ډېره اسانۍ د بولدک ولسوالي ونيوله او په دې سره په پشين، چمن، بولدک، د کويټې ښار او حتی د نړۍ په رسنيو کې يوه غوغا جوړه شوه؛ د پاټکيانو نه چې خلک په تنګ شوي وو د طالبانو سخت تود هرکلی يې وکړاو هر ډول مرستې طالبانو ته را ماتې شوې.

زمونږ هم دا توقع نه وه چې طالبان به دومره ژر دومره ستره بريا ترلاسه کړي او هغه به د نړيوالو پام ځان ته را اړوي او طالبان به د يو ځواک په توګه مطرح کيږي.

زمونږ د آي ايس آي يو بل افسر چې تازه تازه کندهار ته راغلی و له ما وغوښتل چې ملا محمد عمر اخوند رسنيو سره له خبرو ډډه کوي او ډيرې رسنۍ غواړي چې د طالبانو په اړه پوی شي څه وکړو؟

مونږ په بيړه يو تکړه ځوان ملا خير الله خيرخوا چې ډير فصاحت يې درلود يو لنډ کورس له پاره اسلام اباد ته وليږه خو هر څه دومره په تيزۍ سره روان و چې په لومړي ځل مونږ د يو سخت مشکل وخت سره مخ شو چې خپل کارونه مو په سمه توګه نه شو مديريت کولای.

مونږ نه غوښتل دومره ژر د طالبانو په اړه هرڅه خپاره شي او هغه د نړۍ د ميډيا په پرده را ښکاره شي.

دا مهال زما د شاګردانو له ډلې ډير تکړه مشرانو کې ، ملا محمد عمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجاهد چې هغه به لومړیو کې خپله ځان ته اخوند ویل. ملا رباني چې د ملا عمر مرستیال شو بیا او په ملا معاون باندی هم مشهور و، ملا داد الله اخوند، ملا برادر د ملا عمر ډیر تکړه ملګری دی او زمونږ یو له خاصو شاګردانو څخه دی په نظامي برخه کې پوره مهارت لري او په کندهار کې یې ډیر نفوس هم درلود د پوپلزی قبیلې څخه ده، دا هغه شخص و چې ملا عمر ته یې حامد کرزی وړاندیز کړ چې په بهرنیو چارو وزارت کې دنده ورکړي ځکه د کرزي ډیره ښه انګریزي زده وه او کورنۍ یې د ملا برادر سره ښه اړیکې درلودې، ملا نور الدین ترابي چې د امارات د عدلیې وزیر هم پاتې شویی دی، ملا برجان ، ملا عبدالرزاق چې د طالبانو د کورنیو چارو وزیر هم پاتې شوی، ملا محمد، جګ ملا محمد، قاري احمدالله چې په اسلامي امارت کې د کورنیو چارو وزیر او بیا تر مرګه د طالبانو د استخباراتو عمومي رییس پاتې شو، ملا نورالله نوراني چې د شمال تنظیمه رییس او د بلخ والي هم و، مولانا جلالدین حقاني، ملا اختر محمد منصور، ملا عثماني، ملا یارمحمد، ملا عبیدالله اخوند چې د اسلامي امارت پر مهال د طالبانو دفاع وزارت یې مخ ته وړه، ملا هبت الله اخوند، ملا عبدالرقیب او داسې ځو نور کسان چې د اسلامي امارت په جوړولو کې یې اهم لاس و؛ دا کسان یاخو سره بیخي را نږدې شوي وو او یا هم په اړیکو کې و چې په نورو سیمو کې چې د دوی اړوندې وې څنګه جبهه سازی وکړو.

د سپین بولدک فتح کې زمونږ یو اساسي هدف دا هم و چې هلته مونږ یو د وسلو یو ډیر لوی ډیپو هم درلود او هغه باید طالبانو تر لاسه کړی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بولدک کې د (پښې دغره ډیپو) په اړه راته څو ځلې استاد برهاالدین رباني هم ویلي وو چې هغوی ته په ورسپارلو کې ورسره مرسته وکړم، هغه ډاریده چې هسې نه د حزب اسلامي لاس ته ولویږي، ځکه دغه ډیپو چې د روسانو سره د جهاد له وخته پاتې و ډیر زیات مهمات درلودل چې د څو میاشتو دوامداره جګړه یې پرمخ وړلای شوه.

د اونۍ په تیر یدو سره په بولدک کې د طالبانو شمیر زرګونو ته ورسیده او د طالبانو مشران او زمونږ ملګري په ګډه لګیاو بیلا بیلې جبهې یې جوړولې.

ما پسې له پاکستانه عاجل خبر راغی چې ځان ورسوم، په کویټه کې مې خپل مرکز سره اړیکه وکړه خو چا پوره معلومات رانه کړل چې د څه له پاره مې غواړي نو ځکه وارخطا شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طالبانو داسلامي امارت برياوې او له ما پوښتنې

د طالبانو او افغان جهاد په اړه چې کومه خبره هم راځي ټول ګوتې ماته نيسي شايد له دې کبله چې زه تر د سپتمبر ۱۱ پيښې پورې هلته وم خو زه بايد دا په ډاګه ووايم چې په افغان جهاد کې يواځې زه نه وم بلکې زما سره نور ډير تکړه ملګري او همکاران وو چې په ډير برياليتوب مو خپله دنده تر سره کړله.

اسلام اباد کې د لوړ پوړو چارواکو له خوا چمتو کړې ملمستيا کې حاضروم او دهغوی قسم قسم پوښتنو ته مې ځوابونه ويل.

په دې کسانو کې د حکومتي چارواکو ترځنګ د آی ايس آي د ځينو نورو برخو مشران هم و او له ما يې بيلا بيلې پوښتنې کولې، دوی ويل کرنل صيب ريښتيا ريښتيا ووايه چې دا طالبان څوک دي او د څه له پاره را وتلي دي؟

ما ورته وويل: دا زمونږ شاګردان دي.

خو لکه د ناستو کسانو چې باور نه راتلو ماته يې ويل لږ په تفصيل او روښانه توګه ووايه چې طالبان څوک دي او څه څه کول غواړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما کوښښ وکړ چې دوی قانع کړم خو مسلسل پوښتنې یې رانه کولې مجبور شوم ورته ووایم؛ په هغه پلانکی الماری، پلانکۍ شمیره روه او پلانکي فایل کې وګورئ تاسو به هلته ووینۍ چې هلته د ملا عمر، ملا رباني، ملا بورجان، ملابرادر او ... نومونه او د هغوی اړوند معلومات لیکل شوي وي.

له پوره تفصیلاتو ورکولو او شواهدو وړاندې کولو وروسته هغوی باوري شول چې طالبان کوم پردي خلک نه دي بلکې زمونږ خپل روزل شوي دوستان دي او دا به د پاکستان له پاره هیڅ سردردي نه جوړوي؛ بلکې دوی به وکولای شي په افغانستان کې د پاکستان ګټې خوندي کړي نو بیا ډیر زیات خوشاله شو، له دې وړاندې د طالبانو په اړه ډیرې عجیبې خبرې کیدلې تر دې چې د آی ایس آی د یوې مهمې برخې مشر راته ویل چې خبر شوی ملا برجان په اصل کې ملا نه بلکې یو انګریز جاسوس دی چې په دې نوم د طالبانو په منځ کې کار کوي.

ما ډیر زیات ورته وخندل او بیا مې ورته د شوروي پر خلاف د روزلو ۳۵ مثالي ځوانانو پروژه را یاده کړه ورته مې ویل که مو په یاد وي نو ملابرجان هم یو له هم هغې شاګردانو څخه دی.

دا شکونه او شبهات ځکه پیدا شوي وو چې مونږ په ډیره خفیه توګه هرڅه مخ ته وړل، زما ډیر ښه ملګري او د پاکستان لوی خادم جنرال حمیدګل زما ډیره زیاته مرسته کوله، جنرال شاهد عزیز زما د ضرورت اړوند شیان تل پر وخت را رسول، خواجه صیب چې د عرب مجاهدینو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره يې ډېر ښه روابط و زما ډېره مرسته وکړله، همدا ډول نور ډېر نوي ځوانان و چې دهغوی ډېرې ښه ملګرتيا او مرستو زمونږهر کار دومره پټ او خوندي وساتلو چې زمونږ له دې پراجيک بيرون کسانو تر دی وخته پورې هيڅ ډول معلومات نه درلودل. دا زمونږ له پاره بريا وه که په دې اړه له وخته مخکې خبرونه خپاره شوی وای مونږ په دومره کاميابۍ سره په افغانستان د طالبانو د قبضې خوبونه نه شول ليدلای.

هم هغه و چې بيا هم د پاکستان ټولو ادارو زمونږ همکاري شروع کړه او طالبانو ته دومره کار وشو چې په ډېر لږ وخت کې د نړيوالو رسنيو د خبرونو سرليک شو.

په دې تړاو په ما ډېر شکونه کيدل حتی له دې کبله ډېرو افغان ملګرو هم راته ګوتې څنډلې، د اکتوبر په ۳۰مه نيټه بينظير بټو ترکمنستان ته سفر درلود له مونږ مرسته وغوښتل شوه چې د پاکستان لخوا د ترکمنستان خلکو ته ځينې مرستې چې د موټرو شمير يې تر ۳۰ کيدلو ور وړو، دا موټرونه په کندهار کې ودرول شول، د حامد کرزي پلار خپلو کسانو ته امر کړی و چې په دغه موټرو کې ځينې پيسې او وسلې هم ځای پر ځای کړئ او رسنۍ را وغواړئ چې نړۍ ته ښکاره کړو پاکستان د طالبانو پوځي او مالي مرسته کوي. ما ورته کړل چې ښاغليه زمونږ مخه نيول به درته ډېر سخت تمام شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کندهار او پر سپین بولدک د مجاهدینو قبضه

ځینې خبرې داسي وي چې انسان يې هر ځای نه شي کولای، خو د ځينو خبرو سره له دې چې سختې به وي خو بايد وشي او سپين او تور معلوم شي.

کندهار باندې قبضې له پاره مونږ له مخکې چې کومه نقشه تياره کړې وه دهغې د عملي کولو کار مونږ ته اسانه شو. د سپين بولدک د قبضې سره نړيوالو رسنيو او په ځانګړې توګه بي بي سي دومره ډير خبرونه خپاره کړل چې طالبان يې د يو قوت په توګه د خلکو په زړونو کې ځای کړل، له مخکې يوه ويره او ډار د پاټکيانو په زړونو کې و.

مونږ هم خپل خلک کندهار کې ځای پر ځای کړي و او هلته د طالبانو له پاره تبليغات ډير په تيزۍ سره روان و.

هوا ډيره يخه وه او په کندهار کې ژمی هم ځان ته څه وايي ساړه ډير زيات وي.

زه ډير وخت په روخصتۍ نه وم تللی ډير څه ته مې ضرورت درلودلو، خو څه مې کړی وای، يوه ورځ راته د طالبانو يو مهم مشر وويل، چې امام صيب ته خو ډير وخت دلته يې او اوس زمونږ د افغانانو زړونه هم درسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لګیدلي او بلد شویو سره داسې وکړه چې ته دلته واده وکړه.**

**د طالبانو دې مشر یو خپل یوکس ته د میوند ولسوالۍ د یو کلي نوم واخیست او د څو کورنیو یادونه یې ورته وکړه چې په کور کې یې پیغلې لونې دي.**

**مولانا صیب ماته د هغې ځای د نجونو د ښایست ډېر صفت وکړ، په خندا خندا کې یې دکندهاریو پیغلو دمینې، ښایست، قد او سترګو دومره صفتونه وکړل چې ما ورته ویل: مولانا صیب بس کړه ته غواړې هرڅه پریدم او بس همدلته واده وکړم.**

**څو ورځې وروسته مې چې وکتل ریښتیا هم د څو کورنیو مشران مولانا صیب زما خونې ته داخل کړل، هغوی ته یې ویل امام صیب زمونږ ډېر ښه دوست دی او مونږ غواړو تاسو دوی سره خپلوي وکړئ.**

**زه ډېر زیات حیران شوم، مولنا صیب ته دې خدای ج اجر ورکړي چې زما یې دومره احترام کولو او زړه یې را باندې سوزیده، مولنا صیب اوس هم د طالبانو په رهبري شورا کې دی خدای دې یې ژوندی لري.**

**زه د هغوی احترام ته ودریدلم او له مولانا صیب نه مې مننه وکړه ورته مې وویل چې زه دا کار نه شم کولای ستاسو کور ودان.**

**حال دا چې هلته زما ډېرو همکارانو ودونه وکړل، تر اوسه پورې پرې څوک خبر شوي نه دي کله چې په طالبانو امریکا برید وکړ ځینو یې هلته پرېښودې او ځینو یې ځان سره کویټې ته را وستې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خو زه ځکه له دې کاره صرف نظر شوم چې ما نه غوښتل ماته مشکلات جوړ شي ځکه زما زيات سروکار له افغانانو سره و او په دې کار سره به دهغوی منځ کې ما خپل محبوبيت له لاسه ورکړی وی حالانکې ډير ضرورت مې درلود، خو د پاکستان له پاره مې هر ډول سختې په ځان تيرې کړې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کندهار فتحه او اسلامي امارت

له کندهار فتحې وړاندې حکمتیار صیب په رسنیو کې په طالبانو پسې سختې خبرې شروع کړې بل طرف استاد رباني او استاد سیاف د طالبانو سره خواخوږي ښکاره کړه؛ نو مونږ ته فرصت په لاس راغی چې له دې وضعیته د طالبانو په ګټه کار واخلو.

استاد رباني چې زما نږدې دوست دی او د جهاد په وخت کې مو ډېر شریک کار ورسره کړی ما هغه سره اړیکه ونیوله او د مرستې غوښتنه مې ترې وکړه. د ۱۹۹۴نومبر میاشت لومړی نیټه د ماښام ۷ بجې مو سره تفصیلي خبرې وکړې.

استاد رباني ته مې ویل چې زما یو شاګرد ملا عمر له تا مرسته غواړي، په کندهار کې د حزب اسلامي قوماندانانو خلکو سره زور زیاتی شروع کړی او ملا عمر یې په خلاف راوتلی نو که ستا قوماندان یې مرسته وکړي نو دی به خوشاله شي.

استاد رباني راته وواېل چې زه به ملا نقیب الله ته جواب ولیګم چې د طالبانو سره مرسته وکړي، استاد راباني دا هم وویل چې ملا عمر اخوند ته وایه که وسلو او مجاهدینو ته ضرورت لري نو هم مونږ یې ورلیږو، ما ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مننه وکړه چې زما خبره یې ځمکې ته ونه غورځوله، د نومبر ۲مه نیټه سهار مهال ملا نقیب خپل یو قوماندان را ولیږه چې مونږ طالبانو سره هر ډول مرستې ته چمتو یو.**

**لا له مخکې چې په کندهار کې مو خپل ملګري او طالب مجاهدین ځای پر ځای کړي وو د ۱۹۹۴کال د نومبر په ۳مه نیټه طالبانو په کندهار برید پیل کړ، خو تاسو یقین وکړئ چې خدای ج ملایکې د طالبانو مرستې ته رالیږلې وې پاټکیانو به خپله پاټکونه پریښودل، یواځې د حزب اسلامي یو قوماندان عطا محمد سرکاتب لږ مقاومت وکړ خو هغه هم ډیر ژر شکست وخوړ او د طالبانو مخه پاکه شوه.**

**زمونږ ملګري چې د طالبانو په لومړۍ لیکه کې ځای پر ځای وو د مجاهدینو مخ هوایي ډګر پله وګرځو چې هلته ژر قبضه وکړي او د هوایي ټګ راتګ لارې کنټرول کړو، دیخوا ملا نقیب مرحوم خپلو قوماندانانو ته امر وکړ چې قل اردو طالبانو ته تسلیم کړي. د قل اردو تسلیمېدو سره طالبان نور هم پیاوړي شول او په ټول کندهار د طالبانو نغارې شوې او کوم چې ظالم خلک و هغوی کندهار پریښودو.**

**ملا نقیب طالبانو ته په سپارل شوې قل اردو کې ډیرې جنګي وسلې او ټینکونه طالبانو ته حواله کړل.**

**ما ملا عمر صیب ته وویل چې ملا محمد او ملا رباني دواړه کندهار ته ولیږي او هلته د ملا نقیب سره د تسلیمۍ په اړه خبرې وکړي او هغه ته**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اطمنان ورکړي چې طالبان به ورته څه ضرر نه رسوي.

طالبانو ۱۲ ورځې په کندهار جګړه وکړه او چې څومره به مخ کې تلل نو هومره به طالبانو سره مجاهدین زیاتېدل، دکندهار په ولسوالیو کې چې څومره مدرسې وې د ټولو طالبان اسلامي امارت سره یو ځای شول د کندهار ډیر ځوانان چې طالبان هم نه و خو پګړۍ یې وتړلې او د اسلامي امارت په لیکو کې شامل شول، له پاکستان هم مدرسو کې اعلانونه وشول او زرګونه طالبان کندهار ته راغلل.

لنډه دا چې ۱۲ ورځې جګړه وشوه او د ۱۹۹۴ زیږدیز کال د نومبر ۱۵ نیټه وه چې په ټول کندهار ولایت باندې د طالبانو اسلامي امارت قبضه وکړه او له همدې ځایه د طالبانو اصلاحي کمیټه د طالبانو په اسلامي امارت بدله شوه.

دستي دولتي تشکیلات جوړ شول، او په ښارونو کې اعلانونه وشول چې له دې وروسته ټولې دولتي چارې به طالبان پر مخ بیایي او هیڅ ظلم زیاتی به له چاسره نه کیږي.

همدا و چې خلک د طالبانو لیکو ته رامات شول او په ډیره خوشالی یې د طالبانو هرکلی وکړ. او بیا دا حرکت په ځای ونه درید، هلمند، غزني زابل، اورزګان کابل ننګرهار کونړ او لنډه دا چې د افغانستان په زیاته برخه قابض شول او یو پاک اسلامي نظام یې حاکم کړ.

دا جګړه همداسې روانه وه او په بیلا بیلو ولایتونو کې طالبانو پرمختګونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کول، خو د لا زیات ملاتړ له پاره باید طالبانو د دیني عالمانو یوه شورا جوړه کړی وی او د هغې له خوا د ملا عمر مجاهد ملاتړ شوای وای. د پاکستان په مدرسو او افغانستان کې مشهور عالمان را وغوښتل شول او د ۳ ورځو له پاره د ۱۹۹۶ کال په مارچ کې دا اجتماع جوړه شوه.

زمونږ د یو لایق شاګرد چې خدای د خبرو کولو ډیر ښه استعداد ورکړی و. په خپله وینا کې له ګډونوالو غوښتنه وکړه چې ملا محمد عمر مجاهد ته د امیر المومنین لقب ورکړي همدا و چې ملا محمد عمر مجاهد د امیر المومنین په توګه ومنل شو. دا داسلامي نظام اساس و چې هغې کې باچایان او ولسمشران نه وي بلکې امیران وي، لکه امیر المومنین حضرت عمر فاروق رض.

په کابل کې باندې ځو اړخیزه جګړه وشوه دا هم ډیره سخته معرکه وه مونږ ډیر تلفات ورکړل خاص کر د لغمان او کابل منځ کې چې زمونږ استخباراتي معلومات پر وخت مونږ ته نه و رسیدلي نو مونږ خپل یو ډیر قابل او باوري شاګرد ملا بورجان له لاسه ورکړ بلکې ځینې نور ملګري هم ان شول.

د کابل د ریژیم د خپل منځي اختلافاتو له سوبه اخر کار د طالبانو اسلامي امارت وکولای شول چې د ۱۹۹۶ لمریز کال د سپتمبر په ۲۶مه نیټه کابل فتح کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# طالبانو ته د افغانانو هرکلی

ماته افسوس راځي چې اوس اورم امریکا او دهغوی افغان ملګري وايي چې طالبانو استبدادي حکومت رامنځ ته کړی، کله چې طالبان لومړی ځل کندهار ته لاړل له هر طرف يې خلکو هرکلی وکړاو دا يې د امن فرښتې ګڼلې نارينه خو پريږده چې ښځو هم د طالبانو صفتونه کول زه به تاسو ته ځينې خاطرې ووايم چې اوس مې هم په ياد دي.

يوه ورځ چې زه د طالبانو سره روان وم، مخې ته مو ماشومان راغلل ځينې يې ما پېژندل سلام مې ورته وکړ، هغوی هم راسره روغبړ وکړ زما د حال پوښتنه يې وکړه. زه يې ځکه پيژندلم چې د دوی ته مې په کورونو کې سبقونه ويلي وو.

يوه بله کيسه مې هم ياده شوه، همدې ورځو شپو کې يوه ورځ د پير صيب خپلو ملمستيا ته له ځان سره يوړم.

هغوی له ما وپوښتل چې امام صيب دا طالبان دي له کومه ځايه راوړي دي؟

ما ځواب ورکړ چې دا خو ما نه دي راوړي بلکې ستاسو خپل طالبان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ناستو خلکو کې يې يو وويل: امام صيب سړي خو پرېږده بده دا ده چې زمونږ ميرمنې هم د طالبانو ملاتړ کوي، تيره ورځ ميرمنې په ګودر ناستې وې چې تر پر لورې يې طالبان را روان وو، يوې پيغلې چغې کړې وې چې هلې سپي راغلل؛ ترې ډار شوې وې، خو بلې ورته ويلي و چې دا سپی نه دي طالبان دي.

ټولو په دې وخندل داسې نورې هم زرګونه کيسې دي چې خلکو د طالبانو هرکلی کړی او اوس هم د طالبانو سره له زړه مينې کوي.

دا سمه ده د طالبانو په منځ کې به هر ډول خلک وي کله چې لومړی ځل د امر باالمعروف او نهی عن المنکر څانګه جوړېدله داسې وشول چې طالبانو به د پخوانيو خلقيانو او د روسانو د اجنټانو په کورنيو تيري کول هغوی يې وينځې ګڼلې او د شپې به يې کور ته وړلې.

په کندهار کې خلکو له ډاره غږ نه کولو خو دا کيسه ورځ تر بلې ډيرېدله يوه ورځ کوم طالب چې طالب نه و خو پګړۍ يې په سر وه په کوم کلي کې پيغله جينۍ خوښه کړې وه.

هغه يې له پلار غوښتې وه خو چې نه يې وه ورکړې په زور يې ځان سره وړې وه، کله چې نجلۍ انکار کړی و پرې زياتی يې هم کړی و او بيا يې وژلې وه، د نجلۍ کورنۍ طالب مشرانو ته عرض وکړ ټولو انديښنه وښوده او وويل چې دا ستونزه ډيره شوې نو بيا زما د يو ملګري کور ودان چې د امر باالمعروف او نهی عن المنکر ايډيا يې وړاندې کړه او ټولو طالب

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشرانو ومنله.

بیا نو چې چا به جنایت وکړ دې ډلې به سزا ورکوله او همدا و چې خلک وډار شول غلا، ظلم زیاتی، زنا او نور ټول فسق او فسادونه ختم شول او یو مثالي اسلامي نظام رامنځ ته شو.

امریکا او نور کفار ملکونو په طالبانو په سې تبلیغات کول چې دوی په زوره په خلکو اسلام عملي کولو او د ښځو حقوق یې نه ورکول خو دا دروغ دي.

امریکا په افغانستان کې یو اسلامي حکومت نه شو زغملی او ترې ډاریدل ځکه یې پسې تبلیغات کول.

زه به درته دهمدې امریکایانو هغه بیانونه او میټینګونه یاد کړم چې له مونږ سره یې لرل او د طالبانو صفت به یې کولو.

جنرال ضیاالحق د الوتکې په پیښه کې د وژل شوي امریکایي ډیپلوماټ لور او د امریکا د بهرنیو چارو وزارت مرستیاله میرمن رابن رافیل به تقریبا هرو ۱۵ ورځو کې یو ځل راتله او د طالبانو ستاینې به یې کولې، دهغې د خولې الفاظ دي چې "They are very good boys, doing very good job."

سړی حیرانه شي چې امریکا څومره له منافقتونو ډک هیواد دی، زه خو خپله په سیاستونو نه پوهیږم او پوځي سړی یم خو امریکایانو ټول عمر له

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مونږ سره دوه مخې کړې ده. هم هغه طالبان چې دوی به يې صفتونه کول چې دا ډير ښه خلک دي او ښه کارونه کوي اوس يې دهشتگرد کړل.**

**ريښتيا هم چې ما امريکايان ونه پيژندل دوی ټول عمر زمونږ له اخلاصه ناسمه گټه اخيستې او سبا يې راته په مخ توکلي دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هرات ته زما د جنرل قونصل په توګه تګ

د طالبانو اسلامي امارت زيات پرمختګونه کړي و چې له بره راته ام

ر وشو بايد د افغانستان هرات ولايت ته د قونصل په توګه لاړ شم، د افغانانو په اړه ويل کيږي چې دوی په جګړه کې تکړه دي خو کله چې جګړه ختمه شي نو امن او امان هم پسې سروخوري ځکه چې دوی لوټ مار شروع کړي په داسې يو وضعيت کې چې د افغانستان هر طرف ته خانه جنګي وه د هرات په څېر يو ولايت ته زما تګ او هلته ماموريت ډېر سخت و.

زياتو ملګرو راته ويل چې خطر ته ځان مه ورکوه خو ما يې خبره ونه منله او د پاکستان له پاره هر ډول قربانۍ ته چمتو شوم.

په حقيقت کې زما مشرانو هم زه په ځای کيناستو ته نه پريښودلم کله کله به وډار شوم چې هسې نه دا خلک را باندې څه وکړي يوه ورځ مې خپل يو مشر ته همدا خبره وکړه نو په ټوکه کې يې راته وويل:

"You will be more dangerous outside, we wanted to keep you under our thumb"

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: له مونږ لرې به ته نور هم خطرناک شي، مونږ غواړو چې په خپلو لاسونو کې دې وساتو.

په اصل کې زما د ماموریت مهمه برخه منځنۍ اسیا ته د یوې سوداګریزې لارې جوړول وو.

د افغانستان له جګړې وروسته زمونږ وضعیت ښه نه و او له ډیرو ستونزو سره مخ و، زمونږ حکومت غوښتل چې مونږ منځنۍ اسیا ته یوه خوندي او کم مصرفه لاره پیدا کړو او په دې سیمه کې د پرتو ډیرو امکاناتو نه استفاده وکړو.

زمونږ خیال دا و چې که چیرې ددې لارې په جوړولو باندې وتوانیږو نو په افغانستان کې له امنیت راتلو وروسته به مونږ وکولای شو چې د منځنۍ اسیا د نورو ډیرو هیوادونو ترڅنګ د روسیې سره هم خپلې تجارتي اړیکې جوړې کړو او زما په خیال دا یوه اهمه او ضروري پریکړه وه چې هغه مهال زمونږ مشرانو کړې وه.

که څه هم زما کار یواځې همدا نه ونور ډیر کارونه هم وو چې باید مونږ ترسره کړای وای نو ځکه مې یو ځل بیا هرڅه تر شا پرېښودل او یوې داسې سیمې ته لاړم چې ډیر شناخت مې په کې نه درلود.

لاره یې لرې وه ژر ژر کور ته هم نه شوم راتلی او دخوراک له پاره یې ترخه هم کم پیدا کیدل خو یو ارمان و او ویاړم پرې چې د هغې له پاره مې هر ډول قرباني ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د مجاهدینو تقریبا ۲۰ موټرونو بدرګه کولم او کابو ۱۵۰ مجاهدین راسره و، په دې لاره مې چون اشنايي ډیره وه نو حیران وم چې افغانان خو ډیر میلمه دوسته خلک دي دومره یوه شنه ډله که په چا میلمانه شو بیړه خو به یې غرقه وي، بس کور یې ودان زما احترام یې کولو او زما د ژوند ورسره غم و.

کله کله زه ډیر خفه شم چې پاکستان کې دهغوی سره د شوي چلند پر وړاندې مې څه ونه شول کولای هغوی ته شرمنده یم، پاکستاني پوځ خو هغوی په امریکا خرڅ کړل، چې ځینې یې اوس په ګونټنامو کې دي او ځینې نور یې هم د پاکستان په جیلونو کې د مرګ او ژوند په بدترینه حالت کې ژوند تیروي.

په لاره لاره مې د طالبانو ډیرو کماندرانو سره لیده کاته وشول او دهغوی حوصله همت او ارادې راته د بري زیري راکول او هم هغسې وشول، طالبان د لمر په څیر په اسمان راپورته شول او په ټول افغانستان خواره شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ۱۱ سپتمبر پیښه او په افغانستان د امریکا برید

د ۲۰۰۱لومړی کال د سپتمبر ۱۱ پیښه داسې څه و چې له ځانه سره ډيءې بربادۍ يې رامنځ ته کړې امریکا د ټولې نړۍ په سترګو کې شکې واچولې او په ډیره سپین سترګۍ يې د دې پیښو پړه پر اسامه بن لادن واچوله.

خدای شاهد دی تر دې وخته لا ما چرته د القاعده نوم نه و اوریدلی خو اسامه سره مې د يو مجاهد په توګه پيژندګلو وه، تر دې وخته پورې القاعده د يوې خيريه ټولنې په نوم مشهوره وه. مونږ ته ډيره د حیرانتیا خبره وه چې کله مو د دوه لوړو ودانیو د ړنګېدو خبر واوریده او دا يې تر ټولو عجیبه وه چې پړه يې په اسلامه بن لادن واچوله په داسې حال کې چې په دې ورځ اسامه بن لادن په افغانستان کې په خپل يو کمپ کې و. که څه هم دا مهال زما د اسلامه بن لادن سره اړیکه نه وه خو داسې خبرې چرته پټې پاتې کیږي.

مونږ چې د امريکې جديت وکتلو او ډارک په اسلامه بن لادن باندې يې تور پورې کړ او د طالبانو اسلامي امارت ته يې ګواښونه وکړل نو کيسه راته ورانه ښکاره شوه.

زه، خواجه صیب او ځینو نورو دوستانو په خپل منځ کې په دې اړه بحثونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړل چې څنګه امکان لري زمونږ موجودیت کې مونږ دومره ناخبره یو، د پیښې ټول اړخونه مو څیړل خو راته څرګنده شوه چې دا د امریکا او اسراییلي یو خپله لوبه ده او غواړي په دې توګه په افغانستان قبضه وکړي.

په یو سیمنار کې چې امریکایي، روسي او د نورو هیوادونو ډیپلوماتان هم په کې ناست و ما دا ثابته کړه چې اسامه بن لادن یا ملا عمر په دې قضیه کې هیڅ لاس نه لري.

یو طرف یو داسې ملک چې هیڅ نه لري بل طرف د امریکا په څېر پیش رفته ملک چې هر څه یې د ټیکنالوجۍ په مرسته کنټرول دي یوه داسې لویه حمله څنګه کولای شي.

دا خبره اوس په نړیواله کچه واضح شوې چې د ۱۱ سپتمبر پیښه یو سازش و او دا هم ثابته ده چې د دوه لوړو سوداګریزو ودانیو د ړنګیدلو علت هم د الوتکو ټکر نه و، بلکې د ودانیو په لاندې برخه کې د باروتو د چاودنې له امله را نړېدلې دي.

هغه اسامه چې د شوروي پروړاندې د افغان جهاد په وخت کې د امریکا له پاره یو قهرمان او اتل و یو دم د امریکا دشمن څنګه کیدلای شي.

په ۱۹۹۰ میلادي کال کې د جلال اباد په عملیاتو کې اسامه زمونږ او امریکا له پاره لویه کارنامه وکړه داسې چې دهغه وخت ورځپاڼې او د رسنیو خپرونې پرې جوړې شوې خو اوس هغه د امریکا مخالف شو؟ تر ۱۹۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کال پورې يې ورسره ډېر ښه روابط و خو يو دم يې ترې سترګې واړولې؟ رېښتيا هم چې امريکا ډېر بې وفا ملک دی او هيڅ کله د چا ملګری کيدلای نه شي.**

**تر پرونه اسامه يې ملګری و اوس دهشت ګرد شو؟ اسامه دهشت ګرد نه و بلکې امريکا په دهشت ګرد مشهور کړ، دا ځکه چې امريکا خپله ترهګر هيواد دی زه پوهيږم چې بل هيڅ نه و يواځې د خليج جنګ ددې سبب شو چې اسامه د امريکا په سترګو کې ازغی شي.**

**امريکايانو دا پروپاګند شروع کړچې اسامه بن لادن غواړي په افغانستان کې يو (وهابي) حکومت جوړ کړي چې دا سراسر دروغ وو. په افغانستان کې خلک دې شي ته هيڅ تمايل نه لري؛ استاد سياف، استاد رباني حکمتيار او نور ډېر لوی لوی اسلامي عالمان دي خو يو هم وهابي نظريات نه لري.**

**بلکې تر دې چې مجاهدينو ماغوندې په يو جاهل انسان پسې خو لمونځ کړی خو کله مې هم د اسامه بن لادن پسې نه دي کتلي چې لمونځ پسې کوي.**

**له ډيرو خبرنو او لويو لويو متخصيصينو سره له خبرو وروسته زه دې نتيجې ته رسيدلای يم چې امريکا يواځې افغانستان نه بلکې د پاکستان په شمول ډيرو نورو هيوادونو ته سترګې خړې کړي او غواړي چې اشغال او د امريکا مستعمره يې کړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو امریکایان به دا خوبونه له ځانه سره ګور ته یوسي دوی تجربه نه کړله چې یو ځنګه هیواد او ځنګه جګړه کې ځان ښکیلوي چې دا به ورتته ډېره سخته تمامه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملا عمر مجاهد سره زما وروستی ملاقات

امریکا ټوله تیاري کړې وه چې د افغانستان د اسلامي امارت په خلاف به برید کوي او ددې له پاره ناټو او نور ډېر ملکونه يې هم ځان سره يو ځای کړي وو.

د پاکستان يو ځو خرڅ شوي جنرالان او د آی ایس آي امریکایي تربیه شوي ځو مشرانو هم د اسلام او پاکستان دښمنې امریکې سره لاس يو کړی و او دا خبره یقیني شوې وه چې امریکا به هر حالت کې کوښښ وکړي چې افغانستان ته ننوځي.

ما په ځو مهمو ناستو کې جنرال محمود صاحب ته د پاک پوځ او د آي ایس آي د ځینو داسې دوه مخو چاروکو نه شکایت کړی و خو هغه به راته ویل چې له حوصلې کار واخله. په همدې پورې رایاده شوه په ۱۹۹۸کال د اګست په ۲۰مه نیټه امریکا د خپلې بحري بیړۍ نه لسګونه کروز میزایل به افغانستان وار کړل. له هغې څخه زیات او کم ۹۰ میزایل په خوست کې د مجاهدینو په پوځي روزنیزو کمپونو کې ولګیدل او کابو ۶۰ په ننګرهار ولایت کې؛ په دغه بریدونو کې ځینې استادان او د مجاهدینو خاص کماندړان هم ټپیان شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغوی درملنې له پاره چې کله هڅه وشوه چې پاکستان ته راوړل شي نو په میران شاه کې باډر بند کړای شو، ټپیان ډیرژوبل وو، ماسره ځینو کشرانو ملګرو اړیکه ونیوله او چا ما هم څومره کوښښ وکړ نو هیڅ چا وخت رانه کړ داسې مې محسوسه کړه، لکه دا هرڅه د امریکا په خوښه کیږي.

بل طرف د طالبانو د اسلامي امارت مشران له خوشالۍ نځېدل چې خدای تعالی ورته یو ځل بیا د جهاد فرصت په لاس ورکړی، ما به چې د اسلامي امارت د مجاهدینو ارادې کتلې او بل لورې د امریکا له ظلم او وحشت خبر وم نو پوهیدم چې امریکا بله څه کوي؟

طالبان ډیر ساده خو ډیر زړور خلک وو، زما اراده وه چې د طالبانو د اسلامي امارت له امیر المومنین ملامحمد عمر مجاهد سره وګورم نو خپل یو تکړه او وفادار شاګرد ته مې ځواب ولیګلو چې ملا صیب سره ملاقات ته راسره لاړ شي.

ملا اختر محمد منصور د شوروي پر وړاندې د جهاد له وخته راسره شناخت و او د طالبانو د اسلامي امارت پرمهال یې په جنوبي ولایتونو کې د کوکنارو او بنګو د کرکیلې او قاچاقبرانو سره اړیکې وې چې اسلامي امارت ته ترې ټاکلې اندازه پیسې راواخلي، ملا اخترمحمد منصور چې اوس د طالبانو د مرکزي شورا غړی هم دی په حقیقت کې دیني عالم نه و، د ملا عمر مجاهد په خبر ترې زدکړې نیمه کې پاتې شوې خو د جهاد شوق او جذبه یې سره نه شوه او د اسلامي امارات مجاهدینو سره یې ملا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وتړله.

یو بل راز هم درته وایم، چرس په افغانستان کې عام دي او اکثره خلک يې په چيلم او سیګرټ کې څکي. د طالبانو یو شمېر کماندړانو هم څکول خدای ج دې ماته معافي وکړي دهغوی په غوښتنه ما هم څو وارې کش کړي دي چې بیخي يې دنيا راباندې ګرځوله.

افغانستان کې ما ډېر ملایان وکتل چې هغوی چيلم څکي، نسوار استفاده کوي او چرس هم څکي. ملا اختر محمد منصور چې اکثره اړيکه يې د همدې برخې د سوداګرو او قاچاق برو سره وه هم زيات چرس څکل، خو دا کار يې له خلکو پټ کاوه ملا عمر صيب ته روان و چې په موټر کې يې د چرسو سګرټ ولګوه بوی يې په ما بد ولګيد ورته مې کړل نن خو زه ملا صيب ته دا شيطانت کوم، هغه راته کړل بارا زه به ورته ووايم چې امام صيب را باندې وڅکل.

ملا محمد عمر مجاهد ته ځکه ګران و چې ډېرې زياتې پيسې يې اسلامي امارت ته پيدا کولې حتی له عربي هيوادونو يې پيسې راوړلې او د اسلامي امارت په پرمختګونو کې يې خاص کردار و.

ما ورسره د امريکا د پيښې او افغانستان ته د ګواښونو په اړه خبرې وکړې خو هغه ډېر مطمين ښکاريده ويل يې، مونږ انګريز مات کړی، شوروي مو څو ټوټې کړ، په افغانستان کې مو په لنډه موده کې پاټکيان و زغلول، نو امريکا دې هم راشي او خپل زور دې راسره معلوم کړي مونږ سره د خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



ج نصرت دی او اخر بریا به زمونږ وي. ماته دا خبرې هیله بخښونکې وې خو زړه مې درزیده چې هسې نه امریکا په ریښتیا هم د طالبانو په خلاف برید وکړي که داسې وشو نو د پاکستان ټوله خواري به په اوبو لاهو شي.

له پاکستانه جنرال محمود د څو نورو مهمو چارواکو سره چې ملا محمد عمر مجاهد سره یې ځانګړی شناخت و هم ملتیا کوله، همدا ډول د پاکستان ډیر جید علما او دیني شخصیات، لکه مولانا حسن جان، مولانا سلیم الله خان مفتي تقي محمد عثماني او شیخ الحدیث و القران مولانا شیرعلي شاه صاحبان مل وو، له دې وړاندې هم جنرال صیب له ملاعمر غوښتي وو چې اسلامه بن لادن وسپاري خو ملا صیب یې خبره نه وه منلې، جنرال صیب دا دیني عالمان چې ملا عمر مجاهد ورته ځانګړی احترام درلود همدې له پاره ځان سره راوستي و چې ملاصیب ته قناعت ورکړي چې نړیوال وضعیت خراب دی او امریکا به د طالبانو اسلامي امارت داسې پرېږنږدي نو باید اسامه بن لادن ور وسپارل شي.

ملا عمر صیب ډیر مستحکم و او انکار یې وکړ چې کفر ته به کله هم سر ټیټ نه کړي او تر وروستۍ سلګۍ به وجنګیږي.

په مجلس کې ناستو کسانو وژړل او ملا صیب ته د بریا دعا یې وکړه، د جنرال صیب محمود او نورو مشرانو شونډې هم وچې وې، په ټولو ناستو کسانو خفګان و، جنرال صیب محمود چې ملا عمر صیب ته یې ډیر احترام درلود او په درناوي یې ورسره خبرې کولې زیاته کړه « که زه وم خو انشاالله چې د طالبانو په اسلامي امارت به یرغل نه کیږي او که امریکا

(c) ketabton.com: The Digital Library



يرغل کولو نو بيابه زه نه يم»

جنرال صيب چې زه يې له زړه احترام کوم خپله وعده پوره کړه او د امريکا له خوا په افغانستان بريد کې د پاکستان په مرسته د احتجاج په توګه يې له خپلې دندې استعفی ورکړه.

کله چې را روخصتېدو نو ما ملاصيب ته وويل چې زه هم غواړم تاسو سره پاتې شم، خو ملا صيب راته ويل ته لاړ شه پاکستان ته له دې ځای ته مونږ ته هلته ډير په ګټه تاميدلای شې.

ما ملاعمر صيب ته وويل چې په تلو تلو کې يوه مشوره درکوم چې د امريکايانو سره کله هم مخامخ جګړه (Conventional Warfare) مه کوئ، په اسلامي امارت کې داسې مجاهدين او کمانډران شته چې په چريکي جګړه (Guerrilla Warfare) کې به خامخا امريکا ته د سر په کاسه کې اوبه ورکړي، ملا عمر صيب وويل: لومړی يې ورسره مخ په مخ معلوموم او که نه شوه نو بيا ستا مشوره سر په سترګو دا غرونه او دشتې به امريکايانو ته جنهم کړو او دلته په راتګ به يې پښيمانه کړو.

دا سمه ده چې ملا محمد عمر مجاهد زدکړې نه وې کړې خو هغه په سختو شرايطو کې خپله وړتيا ثابته کړه خپل مجاهدين او عام ولس يې د امريکا له ظلم او وحشت خوندي کړ، خو امريکا يې په داسې لومه کې ګيره کړه چې دا دی د ۹ کلونو په تېرېدو سره هم و نه توانيدل طالبان له منځه يوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا محمد عمر مجاهد مرګ ته په سترګو کې سترګې واچولې او د دوستان او دښمنانو د فشارونو سره يې سخته مبارزه وکړه، په ۱۹۹۸ کال د سپتمبر په میاشت کې د آي آيس آي د مشر سره د سعودي عرب شهزاده ترکی الفیصل کندهار ته راغلل او د ملا محمد عمر مجاهد څخه يې د شیخ اسامه بن لادن د سپارلو غوښتنه وکړه. د آي ايس آی مشر او سعودي شهزاده په طالبانو د جهاد د مرستو زباد وکړ، چې له کبله يې ملا عمر مجاهد ډير زيات غوسه شو، بهر ووتلو چې بیرته راغی نو په سر يې اوبه اچولې وې، غاړه يې هم لمده وه، دواړو ته يې مخ کړ: که چرته مې میلمانه نه وای نو داسې سزا به مې درکړی وی چې عمر عمر به مو یاد ساتلای تاسو د امریکا له پاره راځئ او د يو مسلمان غوښتنه رانه کوئ، ملا صیب شهزاده ترکی الفیصل ته پیغور هم ورکړ چې شرم وکړئ چې د خدای ج کور د کعبې تر لمنې مو یهودان او امریکایان راوستلي او اډې مو ورکړي دي.

ملا محمد عمر مجاهد د امارت په وروستیو ورځو کې د يو ښه مذهبي او افغاني رهبر په څېر چلند وکړ او میلماپالنه چې د افغانانو وياړ او ځانګړی صفت دی هغه يې خرابه نه کړه خپل امارت يې پرې ړنګ کړ خو له خپل قول او خبرې په شا نه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناين اليون او طالبانو سره زمونږ کړې جفاګانې

ما باور هم نه شو کولای چې هر پيژندلې سترګې به دومره ژر بدلې شي په پاکستان کې پوځې واک تر دې کچې و چې هډو چا د خبرو چانس هم نه راکولو، په طالبانو د روان ظلم او بربريت خلاف چا غږ هم نه کولو، کله چې امريکې غوښتل چې په عراق حمله وکړي نو له ترکيې يې مرسته وغوښته او د اربونو ډالرو د مرستې ژمنه يې وکړه خو ترکې حکومت وويل چې مونږ به خپل پارلمان سره دا موضوع شريکه کړو.

خو زمونږ په هيواد کې پارلمان چرته و؟ سياسي قيادتونه چرته و خو بس هرڅه د يو څو امريکا پرستو په لاس کې وو، ډير هغه مشران چې مونږ سره د افغانستان جهاد په هره صحنه کې شامل وو هغوی د امريکا په لورې ودريدل، ډير هغه جنرالان او کرنلان مې وکتل چې طالبانو ته به يې تر پرونه د اسلامي عازيانو، د محمود غزنوي لښکراو د اصحابو خطابونه کول هغوی د يو بزدل جنرال په څنګ کې ولاړ دي او زمونږ د کلونو کلونو خوارياني او تکليفونه ضايع کوي.

طالبان زمونږ قهرمانان وو، هغوی د پاکستان سره دومره مينه درلوده چې جنرال پرويز يې ورسره نه لري، جنرال پرويز مشرف او څو نورو جنرالانو د څو ډالرو له پاره پاکستان ته يو نوی سرخوږی جوړ کړ او تاسو به وګورئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ددې نا اهله خلکو له امله ډېر ژر پاکستان له کوم بحران سره مخ کيږي.

په خدای ج قسم ما په ورځو ورځو ډوډۍ ونخوړله، له سترګو مې خوبونه والوتل او د افغانستان په غرونو او رغونو کې د پاکستان د بقا له پاره تيرې کړې شيبې مې سترګو ته ودرېدلې، په لومړي ځل مې له ځان سره وويل: چې سلطانه! له ډيرې هوښيارتيا سره هم ونه پوهېدې چې څنګه د يو کافر هيواد له پاره وکارول شوې.

پاکستاني جنرالانو د څو روپيو له پاره د طالبانو کماندران په امريکايانو خرڅ کړل، په قبايلي سيمو کې د عملياتو اجازه يې ورکړه بلکې مرسته يې ورسره وکړه، او خپلې هوايي اډې يې ور وسپارلې چې اسلامي امارت ړنګ کړي.

په دغه ورځو کې زما د جهاد د وخت يو ملګری چې زياتره د استخباراتي معلوماتو د کره کولو په برخه کې به يې ډيره مرسته کوله؛ د جنرل مشرف سره په نږدې ماموريت مقررشو.

ما هغې سره خبرې وکړې چې مونږ څه کوو لګيا؟

جنرال شاهد عزيز وويل، مونږ هم نه پوهيږو؛ جنرال صيب مشرف مونږ ته پاکه خبره نه کوي يواځې دومره وايي چې مونږ څه کوو د پاکستان د خير له پاره يې کوو.

ماويل: دا څنګه د پاکستان ګټه ده چې مونږ خپل هوايي ميدانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکایي پوځیانو ته سپارو، دهغوی استخباراتي مامورینو ته د لویو ښارونو دفترونو د فعالیت اجازه ورکوو، د ناټو لوجیستیکي ټیمونو ته خپله ځمکنۍ لارې ورکوو او وایو چې دا د پاکستان په ګټه ده.

جنرال شاهد عزیز ویل: د کور کماندړانو په ناسته کې په همدې بحثونه وشول خو یو شمیر چارواکي د مشرف صیب د دریځ ملاتړ کوي او مشرف صیب وایي چې اوس ما له امریکایانو سره وعده کړې او هغوی سره نه شو کولای چې مونږ ځان په مخالفت کې واچوو ګني هغوی به له هندوستان مرسته وغواړي او له افغانستان وړاندې به پاکستان له مخې لرې کړي.

جنرال شاهد زیاته کړه چې مشرف صیب وایي که مونږ له امریکې سره مرسته ونه کړو نو زمونږ اټومي اساسات هم په خطر کې دي.

جنرال شاهد نن هم ژوندی دی ترې کله وپوښتۍ ما یې په دې منطق ډیر وخندل او ورته مې کړل چې تاسو مشرف ته ووایې « ته خپل قوت ولې خپل ضعف بولې» کله چې ته یو اټومي ملک یې څنګه د امریکې پر وړاندې داسې کمزوری چلند کوې.

زما په پاکستان زړه خوږیده په ډیره سختۍ مې د هغه مهال له یو استخباراتي چارواکي سره اړیکه مخ شوه. په دې ورځو کې چې هرڅه کېدل مونږ نه پوهیدو هر څه داسې روان و لکه له وړاندې چې طرح شوي وي.

امنیتي مشر نه مې پوښتنه وکړه چې مونږ د کومو هوکړو او ژمنو پر اساس

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له ناټو او امريکا سره ولاړ يو؟**

**خو خپل هغې قدرمند مشر ماته معلومات رانه کړای شول بلکې وويل چې جنرال مشرف صيب خو وايي چې اوس ما له امريکا سره معاهدې کړي خو داسې هيڅ نشته.**

**د کولن پاول يوه اړيکه وه او جنرال صيب مشرف او ملګرو يې چې هغه وخت کې په جي، ايچ، کيو کې ناست وو هر څه په سيند لاهو کړل او د امريکا مرستې ته يې ودانګل.**

**په يوه امنيتي جلسه کې چې کله د جيکب اباد، شمسي، ژوب او... په اړه پوښتنه وشوه چې څه ډول استفاده ناټو او امريکا له دې هوايي اډو څخه کوي؟ نو جنرال صيب مشرف او دهغه هم فکره کورکمانډرانو وويل د ضرورت پر وخت او د محدودو الوتکو او چورلکو له پاره ورکړای شوي، خو ډير ژر افشا شوه چې څه ډول امريکايي او ناټو ځواکونه له دې اډو استفاده کوي.**

**بيا مشرف صيب ويلي و چې دا هوايي آډې خو ما د انساني همدردۍ له کبله ورکړې وې چې هسې نه د کومې ستونزې له کبله د الوتکو پايلوټان مړه نه شي.**

**ماته افسوس راځي په داسې خبرو، يو خوا زمونږ د پروني ورځو د اتلانو او قهرمانانو پر وړاندې امريکا او ناټو وحشت روان کړی و او د پاکستان له پاره زمونږ جوړې کړې ټولې منصوبې له خطر سره مخ وې بل لورې مشرف**

(c) ketabton.com: The Digital Library



صیب او همفکره ملګري يې د څو امريکايي او يهودي پايلوټانو سره د انسانيت خبره کوي.

په ورستيو ورځو کې د طالبانو د اسلامي امارت د مشرانو په منځ کې هم عجيبې کشالې را پورته شوې او ما په لومړي ځل احساس کړه چې يواځې پاکستان نه و چې د طالبانو سره همکار و، بلکې د نړې د نورو ډيرو هيوادونو د استخباراتو ډلې هم فعالې وې او دا اړيکې هم په آي ايس آي او آيم آی کې د دوی د ځينو خواخوږو له منځ ګړي توب راتمنځته شوې وې. دا هغه وخت را برخېره شوې چې کله په ورستيو کې د طالبانو له خوا داسې پرېکړې منظر عام ته راغلي چې په نړيواله کچه يې د اسلامي امارت له پاره خطرات راپورته کول.

په باميان کې د بودا لوړې مجسمې چې کلونه کلونه د طالبانو په واکمنۍ کې ولاړې وې يو دم يې د ړنګيدلو اعلان وشو. د طالبانو په اسلامي امارت کې زياتو مشرانو مخالفت وکړ خو بيا هم ځينې کړی وې چې دا چاره يې عملي کړه.

مولوي متوکل سره په دې اړه زمونږ اړيکه وشوه هغه ډير خوابدی و، ملا رباني صيب يې هم مخالفت وکړ، ملا عبيد الله اخوند ويل دا به مونږ د نړيوالې ټولنې سره په مشکل کې ګيرې کړي.

دا د اسلامي امارت مجموعي نظر نه و بلکې دا کار هغوی ډلو وکړ چې د نورې نړې د استخباراتو له پاره يې د طالبانو په منځ کې کار کولو او زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوی شوم چې دلته یواځې مونږ نه بلکې نوره دنیا هم ښکیله ده.

کله کله چې زه  په تلویزیون د افغانانو ورونو نظریات اورم چې دوی په هر کار کې پاکستان خپل دښمن بولي او ملامته کوي یې زه دوی ته وایم چې ستاسو اصلي دښمنان هغه دي چې ځان د دوست په جامه کې در پیژني.

زمونږ د اکثره ملګرو نظر دا و چې په دا ډول یو ګونګ حالت کې مونږ ته نه دي پکار چې مونږ په دې جګړه کې ځان ښکیل کړو، ځکه چې امریکا او ناټو هرڅه په خپله خوښه کول او د کار له کولو وروسته مونږ خبریدو چې امریکا او ناټو څه کوي.

نو ځکه دا جګړه مونږ ته بې معنا وه او مونږ پرته له دې چې د مجاهدینو سره په جګړه کې ښکیل کړي او یوځل بیا راته په افغانستان کې زمونږ دښمن (هندوستان) پیاوړی کړي بل هیڅ نه راکوي.

یو خو د ۱۱ سپتمبر له پیښې وړاندې زمونږ په افغانستان کې نظر ښه نه و بیا چې مونږ د مجاهدینو سره په جګړه کې بوخت شو نو زمونږ سرسختې دښمن چې هر وخت زمونږ له پاره چمتو ناست دی له دې فرصت به استفاده وکړي او په بې لګښته فرصت به مونږ ته یو ګواښوونکی محاذ پرانیزي او ددغه محاذ پر وړاندې مونږ سره یواځې یو داسې پوځ و چې په هغوی مو لګښت نه راتلو، زمونږ سرتیرو تاوان نه لیده خو جګړه زمونږ د بري له پاره کېدله او دغله بې مصرفه لښکر له طالبانو بل څوک نه شو کیدلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سوچ مقام دی کله چې ناټو او امريکايي ځواکونو ته د جيکب اباد او نورو هوايي اډو د سپارلو خبره وشوه نو پرېکړه وشوه چې د پاکستان امنيتي سرتيري د دغه اډو د امنيت ساتنې له پاره هلته ورشي، کله چې امنيتي ډلې هلته لارې نو معلومه شوه چې له پخوا بهرني سرتيري هلته موجود و او دغه هوايي اډې يې په افغانستان کې د بمباريو له پاره استعمالوې؛ د پاکستان امنيتي سرتيرو چې کله ددغه هوايي اډو د امنيتي کمربندونو جوړولو هيله ښکاره کړه، نو امريکايي سرتېرو منع کړل او ورته يې کړل چې تاسو زمونږ د امنيتي کمبربندونو بيرون امنيت ونيسۍ، په خپل وطن کې يې مونږ د بل لاس ته کينولو، اوس تاسو ووايې چې غدار څوک دی؟

**امريکا مونږ په جګړه کې ښکيل کړو**

په افغانستان کې د کار کولو او دهغې ځای له اب و هوا سره د بلدتيا په سوب ويلی شم چې امريکايي ځواکونو او ناټو چې په کوم ډول د اسلامي امارات په خلاف جګړه پيل کړه دا هيڅ د برياليتوب لاره نه وه بلکې دوی چې ځنګه خپله غواړي هم هغه ډول يې دې جګړې ته دوام ورکړی دی.

په داسې حال کې چې امريکا او ناټو د خپلو ځواکونو لوجيستيکي ضروورياتو له پاره د پاکستان لاره ټاکلې وه او په دې توګه دوی پوځي عمليات هم له دې لارې په اسانۍ او کاميابۍ ترسره کولای شول خو دوی داسې ونه کړل.

بلکې د شمالي اتحاد سره يې لاس يو کړ او له هغې اړخه يې طالبان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تورې بورې او جنوبي ولایتونو په لور په شاتګ ته مجبور کړل. امریکا او ناټو د خپلې محاسبې له مخې د جګړې تکتیک همدا ډول غوره کړ او له دې لارې یې غوښتل چې طالبان، القاعده او د منځنۍ اسیا مجاهدین پاکستان ته دننه کړي. مجاهدین چې په ختیځو سیمو کې د جګړو له موقعیتونو خبر و نو زیاتره یې د تورې بورې په لور لاړل خو هلته د امریکا استخباراتي سازمان هم پوره بلدتیا درلوده له سختو بمباریو وروسته مجاهدین اړ شول چې په ډیورنډ باندې پاکستان ته را واوړي.

که امریکا د پاکستان او جنوبي ولایتونو څخه جګړه شروع کړی وی نو کولای یې شول چې طالبان محاصره کړي او خالي سلاح یې کړي خو داسې ونه کړل. ددې له پاره چې پاکستان غافل ګیر کړي او ملامتیا پرې واچوي وخت ناوخت به یې په دې اړه تشویشونه هم شریکول.

یوه ورځ امریکایي جنرال او د CENTCOM قوماندان ټومي فرینکس په (جي، ایچ، کیو) کې زمونږ ښاغلو ته په ډیره ستغه لهجه وویل« خپل ډنډ مو له مګرمچ( سمندري داړونکی حیوان) پاک کړئ چې ستاسې ماهیان ونه خوري، دا زمونږ او تاسو دواړو له پاره ډیره تاوان اړوونکې تمامېدلای شي.»

جنرال ټومي فرینکس له مګرمچانو مطلب مجاهدین وو او له ماهیانو یې مطلب زمونږ خلک وو. همدا وو چې جنرال مشرف امر وکړ سرحدي سیمې تر کلک څار لاندې ونیسی په چمن باړر او ځینو نورو سیمو کې یو شمیر عرب مجاهدین ونیول شول او د تحفو او ډالیو په بدل کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکا یانو ته وسپارل شول.

بله د مزې خبره دا وه چې امریکا له پاکستانه د مجاهدینو لیست وغوښت او زمونږ پوځ ته یې وویل چې په پاکستان کې د بهرنیو مجاهدینو یو راجستریشن وکړئ، په دې کې یې پاکستاني لوري ته وویل چې د افغان طالبانو راجستر کولو ته ضرورت نیشته، نو که امریکا او ناټو په ریښتیا د ترهګرۍ په خلاف جګړه کولای او کومه ډرامه یې مخ ته نه وړلی نو ولې یې داسې دوه مخې پالیسي عملي کوله؟

زه چې وایم امریکا همدا غوښتل چې پاکستانی پوځ له مجاهدینو سره په جګړه کې ښکیل شي نو سلګونه شواهد لرم. دوی چې کله هم په پاکستان کې د مجاهدینو خلاف عملیات کول پوره او بشپړ معلومات یې مونږ ته نه راکول، حتا تر ډیره یې د عملیاتو نقشه هم زمونږ افسرانو ته نه سپارله، له همدې کبله ځینې ډیرې دردونکې پیښې وشوې.

یوه ورځ د لسګونو پاکستاني سرتیرو په ملتیا امریکا په یو کور د عملیاتو غوښتنه وکړه، هلته له ورتګ وروسته یو سړی له کور راووتلو، ورته وویل شول چې مونږ غواړو کور تلاشي کړو، سړي وویل چې یوه شیبه راکړې تر څو ښځې او کوچنیان یوې څنډې ته کړو، کله چې سرتیرو ته د کور دننه کېدلو وویل شول له هغې خوا پرې ډزې وشوې او زمونږ لسګونه سرتیري ان شول، د شپې تر ناوخته جګړه وشوه خو له جګړې وروسته معلومه شوه چې بهرني مجاهدین په تېښته بریالي شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو تاسو اوس ووایې چې د امریکا په خبر له جنګي ټیکنالوجۍ برخمن هیواد څنګه دا ډول تکتیک ټاکلی شي، خو ښکاره ده له دا ډول کارونو یې مقصد د پاکستان خرابول مراد دي. او بیا دا سلسله تر دې را ورسیدله چې په قبایلي سیمو کې یې طالبان جوړ کړل. هم هغه دفترونه او ځایونه چې مونږ سي آي ای ته ورکړي و د پاکستان خلاف یې وکارول، دا چې په قبایلو کې وو دا طالبان نه و، سمه ده زمونږ ډیر شاګردان هم دلته وو، سلګونه داسې اسناد او شواهد شته چې دلته (را) د امریکا CAI او حتی اسراییلي استخبارات ښکیل وو.

امریکا برناحقه په مونږ یو جګړه را وتپله چې له کبله یې نن پاکستان له ډیرو سختو حالاتو سره مخ دی، زمونږ باور، زمونږ اقتصادي حالت او نړۍ سره زمونږ اړیکې اوس د امریکې په رحم و کرم دي او تر ټولو غټه خبره دا چې پاکستان له نړیوال سیاسي سسټمه د غلطو پالیسو او د امریکې د دوه مخې له مخې په وتلو دی.

امریکا او هندوستان غواړي چې په سیمه کې د پاکستان ځای افغانستان خپل کړي، افغانستان له پاره یې له ضرورت زیات سل ګونه زره پوځ جوړ کړ. امریکا او هندوستان په پټه NDS ته میلونونه ډالر ورکوي، جدید استخباراتي وسایل ورکوي او هلته یې د پاکستان مخالفو افرادو ته ځای ورکړی دی چې ټول وخت د پاکستان د بربادۍ پسې لګیا دي.

د امریکا د کشمیر مجاهدین د هندوستان د خوشالولو له پاره په پاکستان حکومت باندې له منځه یوړل، او اوس هیلري کلنټن لګیا ده د افغانستان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشالولو له پاره په پاکستان تور پورې کوي چې ګونډې دا هرڅه پاکستان کوي.

په قبايلي سيمو کې بمبارونه وکړل، خلک يې بې ستره کړل حال دا چې د قبايلو يو خپل کلتور او رسم رواج دی او دهغې ماتول نه شي برداشت کولای ځکه خو قبايلو کې د پاکستان خلاف ذهنيت عام کړای شو.

## افغان باقی کوهسار باقی

## الحکم لله والملک لله

کابو لس کاله تير شول خو امريکا او ناټو اوس په دې خبره اعتراف کوي چې دوي د افغانستان په غرونو کې بند پاتې شوي دي. دوی فکر کولو هغه تيروتنې چې له شوروي او انګريزانو په دې خاوره د جنګ پرمهال شوي دي دوی به يې نه تکراروي او د همدې له پاره يې د ټولې نړۍ لښکر له ځانه سره راټول کړ او د نويو وسلو بارې يې په افغانستان کې د جګړې له پاره راوړې. د خپلو پوځيانو د جګړې پر ځای يې په ميزايلو او ډرون الوتکو تکيه وکړه او همدا د دوی د ناکامۍ سبب شو. بل طرف افغانستان کې بهرني سرتيري جګړې ته چمتو نه دي ځکه چې هغوی سره د جګړې له پاره کوم هدف نشته او هغوی اوس په دې پوهيږي چې امريکا د ترهګرۍ خلاف مبارزه نه کوي بلکې د خپلو ګټو له پاره په مسلمانانو زور زياتي او وحشت ته يې لاس اچولای دی. له همدې کبله په تيرو زياتو کم لسو کلونو کې د امريکا او ناټو زرګونه سرتيري مړل شول، او زرګړونه يې زخميان شول، افغانستان ته په امريکايي پوځي ليکو کې راغلې سرتيرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجونې د تېښتې لاره لټوي دا بهانه کوي چې د جګړې پرمهال د نارینه پوځیانو سره د دوستۍ له امله اوس اومیندواره شوې دي، داسې چټل، بدکرداره او منخوس خلک کله د افغان مجاهدینو پر وړاندې جګړه کولای شي؟

دا سمه ده چې افغان مجاهدینو سره سمه او نوې وسله نشته خو دوی سره کلکه عقیده، ازادۍ سره مینه او ایمان دی چې له امریکایي وسلې زیات قوي دی.

بل دا چې افغان مجاهدین د ۳۰ کلنې جګړې تجربه له ځان سره لري او پوره یو نسل یې په جګړه کې را لوی شوی دی نو ددې جګړې د ګټلو راز او لارې چارې ورته معلومې دي.

امریکا هڅه کوي خپله ناکامي د ډالرو د رشوت په ورکولو پټه کړي خو زه چې د افغان قوم سره څومره نږدې پاتې شوی یم او تر کومه راته افغان مجاهدین معلوم دي دوی به کله هم خپله ازادي خرڅه نه کړي او تر وروستۍ ورځې به دوی له امریکا سره وجنګیږي او انشاالله دخدای ج په مرسته به دوی امریکا ته ماتې ورکوي او لکه د روس به شرمیدلي له افغانستانه ځي.

د روسیې خلاف په جهاد کې کابو یو نیم میلیون افغانان ان شول او سل ګونه زره معلوم خو دوی په شا نه شول او خپل سرونه یې په لاسونو کې ونیول او د روس په خلاف وجنګیدل؛ دا سمه ده افغانانو سره ډالر او

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسلې نشته خو د خپلو سرونو د قربانۍ برخه کې هيڅ بخل نه لري.

دا چې اوس دوی له افغانستانه د وتلو کومه خبره کوي او کومه نيته ټاکي په حقيقت کې دا ځان له پاره د ورو پوځه ږدي او خوړلې ماتې په دې سره نه شي پټولی.

روس سره چې په جګړه څومره مصرف راغلی و له هغې څو چنده زيات لګښت تر اوسه پورې امريکا په افغانستان کړی دی خو هيڅ لاسته راوړنه نه لري بلکې ورځ تر بلې ورته افغان مجاهدين ګواښوونکي کيږي او لرې نه ده چې لوښي کالي به له افغانستان بار کړي او له يو سخت شکست سره به مخ شي.

زه د پاکستان حکمرانانو ته وايم چې د امريکا له شکست وروسته به تاسو هم له يو سخت حالت سره مخ شئ نو ښه خبره دا ده چې د خپلو تيروتنو جبران وکړئ او افغان مجاهدينو سره چې د پاکستان مخلص دوستان دي ودريږئ.

په پوځ او د پاکستان په امنيتي ادارو کې زه سلګونه ځوان افسران پيژنم چې پاکستان له پاره هر ډول قربانۍ ته چمتو دي او هغوی کولای شي چې د افغان مجاهدينو زړونه لاسونو ته راوړي.

اوس مهال مجاهدين د امريکا او ناټو سره په يوه چريکي جګړه بوخت دي چې امريکا به کله هم دا جګړه ونه ګټي او نه هم د امريکا له ملاتړ پرته افغان حکومت دوه ورځې پاتې کيدلای شي، نو مونږ نه بايد طالبان او د نورې نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجاهدین د ځان له پاره دښمنان کړو.

زما د خپلو کور کماندېرانو او په پوځ کې چې کوم اعلی چارواکي دي دا هیله ده چې دوی به په خپلو ادارو کې د خرڅ شویو جنرالانو او چارواکو په خلاف ودریږي چې د چا له کبله پاکستان د تباهۍ سره مخ کېدونکی دی.

زه دا باور در کوم چې که د څو نورو کلونو له پاره افغان مجاهدین د امریکا پر وړاندې ودریدل، په سیمه کې به د پاکستان بیرغ تل هسک پاتې شي، او ددې کار له پاره یواځې پاکستان نه بلکې د سیمې ډیر هیوادونه داسې شته چې لاس یو کړي او امریکا له دې سیمې وشړو، څومره چې د ډیر وخت له پاره امریکا په افغانستان کې پاتې کیږي هغومره زیات مشکلات به د پاکستان له پاره په سیمه کې جوړیږي.

د ۱۱ سپتمبر له پیښې وروڅه زمونږ مشران په بشپړه توګه د امریکا پر وړاندې په سجده شول، کله چې د کومې قافلې مشر کیدړ وي نو هغه ټوله قافله د کیدړانو په څېر کړي. زمونږ مشران نهایت بزدل او له ملي غیرته بې برخې خلک وو، ما د نړۍ په تاریخ کې نه دي کتلي چې په یو ټلیفون دې څوک چاته تسلیم شي او هرڅه دې دهغه په خوښه کړي.

اوس تر یو بریده حالات بدل شوي، نړۍ د امریکا په ارادو او عزایمو پوهیدلې او د سیاسي بصیرت تقاضا دا ده چې امریکا ته په سترګو کې سترګې واچولای شي او د پاکستان د بقا له پاره یې پر وړاندې ودریږي که زمونږ اوسنی قیادت او چارواکي دا جرات وکړي زه امید لرم چې ګټه به د پاکستان وي او ډیر نور هیوادونه به پاکستان سره له امریکا د ښه ملګرتیا لاس را اوږد کړي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**